په احمدشاهي واټ کي د کندهار د مخابراتو د مدیریت د چینل سیستم او داتومات تیلفون نوي ودانۍ

ښاغلی خواخوږی

ښاغلی محمد ابراهیم [خواخوږی]

پسرلی

یاره پسرلی دی هره خوا ښکلی گلونه دی
سمه غرشین ښکاری د قدرت ښه سنگارونه دی
جوړی یارانی دی د لورینی پیغامونه دی
چټی پېغلی خاندی خوشالۍ اوانځونه دی

ستا د وصل جام ته انتظاریم انتظار ساقی
مړ شومه له تندی نشته ما لره قرار ساقی

راسه د زړگی غوښی به تا لره کباب کړمه
جوړبه د رگو څخه تارونه د رباب کړمه
ستا د جام د پاره به د زړه وینه شراب کړمه
ستا د عشق په سوز به یاران مست وخراب کړمه

ستا د وصل جام ته انتظاریم انتظار ساقی
مړ شومه له تندی نشته ما لره قرار ساقی

څونه به ډېر ښه وی چی په مینهٔ یارانه وکړو
ناز وکړو نیاز وکړو کارونه مستانه وکړو
ناست د سیند پرژۍ مستی سپوږمی ته پیمانه وکړو
لاس تر غاړه وگرزو خبری رندانه وکړو

ستا د وصل جام ته انتظاریم انتظار ساقی
مړ شومه له تندی نشته ما لره قرار ساقی

زه به یمه، ته به ئې خوښی به وی، مستی به وی، نشه به وی
ناز به وی، نیاز به وی، سرود به وی، نغمه به وی

« پاته د پشتی په دریم مخکی »

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 MAR 2005
PAKISTAN 6

ددې کښې مضامین

دپښتون ماضی او...	په	[۱]	مخ کی
اکوست کنت او...	«	[۳]	« «
ور کتوب	«	[۵]	« «
د لیکلو قریحه	«	[۷]	« «
د سکندر په مقابل..	«	[۸]	« «
انتقاد د عظمت...	«	[۱۰]	« «
د مذکر جمع	«	[۱۲]	« «
غمېدلی او غمولی	«	[۱۷]	« «
راغلی لیک	په	[۲۰]	مخ کی
د مرګ پیغام	«	[۲۳]	« «
د علم النفس...	«	[۲۵]	« «
د ودې	«	[۲۷]	« «
د ایټالیې بووفادار	«	[۲۹]	« «
شکسپیر	«	[۳۰]	« «
پښتو او پښتون	«	[۳۲]	« «
د سپوږمۍ په...	«	[۳۳]	« «
د کلتور آغاز	«	[۳۵]	« «

LIBRARY OF CONGRESS
STANDARD OFFICE
19 MAR 1902

معذرت

د ځینو مشکلاتو له کبله مو ونه کړای شوای
چی په دلو او حوت کی جلاجلا دا مجله خپره
کړو نو ځکه دا ګڼه د دواړو میاشتو دپاره
ده هیله کوو چی ښاغلی مشترکین اولوستونکی
زموږ دامعذرت ومنی .

مسئول چلوونکی
ا، م «کرزی»
اداره دشهیدانو واټ
[ددولتی مطبعې څنګ ته]

کندهار

میاشتنی خپرونه
ادبی. تاریخی. اجتماعی. علمی

کالنی «بیه»
په کندهار کښی [۲۸] افغانی
په دننه مملکت کښی [۳۲] «
په دباندنیو هیوادو کی یو ډالر

ګڼه [۱۱] لمریز کال ۱۳۴۰ د دلو [۱] دمیلادی کال ۱۹۶۲ دجنوری [۲۰] پرله پسې ګڼه [۲۳]

د پښتون ماضی او حال

سپین سباؤ دختیځ پرشنکی آسمان روښانه لمر ځلېدی ولسونو یوله بله دورورولۍ ژوند کاوه . د پښتونخوا پرجګو غرونو واوری پرتې او په رغونو کی سره ګلونه شنه کېدل د پښتنو کښږدۍ د غرونو په لمنو کی ولاړی او خلکوئې دخپل نسل دبقا دپاره داسی دعاوی کولې:-

لویه خدایه لویه خدایه — ستا په مینه هر هر ځایه
غر ولار دی درناوۍ کی — توله ژوی په زارۍ کی
دلته دی د غرو لمنی — زموږ کښږدۍ دی پکښی پلنی

دا وګړی ډېر کړی خدایه
لویه خدایه لویه خدایه

دلته لږ زموږ اور بل دی — وور کور کی وور مو بور جل دی
مینه ستا کی موږ میشته یو — بل د چا په مله تله نه یو
هسك او مځکه نغښته ستا ده — د مړو وده له تا ده

دا پالنه ستا ده خدایه
لویه خدایه لویه خدایه

له آمو ترا باسینده تول دیوه ملیت زانګووه دژوندانه دوېجاړو چارو دپاره به په ګډه راتولېدل مشرانو پر کشرانو محبت درلود او کشرانو هم د زړه له کومی دمشرانو دامر اطاعت کاوه دوی ددې ورورولۍ او اتفاق په سیوری کی وکړای شوای چی خپل انسانی وجایب پرځای کړی او دڅو پېړیو دپاره عدالت او عالی تهذیبونه په نورو هیوادونو کی خپاره کړی دوی په خپله ژبه زغېدل او دخپل ادب نه ئې خپله ذوقی تنده ماتوله ددوی دثقافت په مانۍ کی دپردو بوی اورنګ اغیزه نه وه کړی خو دژوندانه په دې ګیرودار کی د لوېدیځ په سیمو کی ماشین پیدا شو او ددې پیدایښت سره سم انسانیت چیغی کړی چی زما د ځکندن وخت رانژدې سوی دی شرافت کرزی کړی چی زما پاکه لمن داغداره شوه .

خو دماشین سره صنعتی ژوند پراخ شو او ددې پراخېدو په ترڅ کی سرمایه دارۍ تمرکز وموند سرمایه دارۍ د خپل ذاتی خاصیت له مخی استعمار او استثمار غوښت نو ځکه د سوداګرو د کاروان بهیر د ملتونو داستثمار په نیت له غرب څخه د ختیځ په لوری راوخوځېدی ددې خوځېدو سره خوړسکی اسمان ته پورته سوی او د نورو وریځو په شکل د شرقی هیوادونو پر سرونو خپرې سوې .

استعماری کاروان خپله لاره وهله او واړه، واړه قومونه ئې

ترخپلو کواندو لاندې کول . دقومونو شعور هم راویښېدی . لیکوال اوشاعران مخه لرې
خو دهغه پراخې اوزشونه را اودرېدلې یه آینه کې ئې د چې دنوی ادب خاوندان
شپږه سوا دیه دې مینه کې ئې مستقبل ژوند نغداري کولې . دپښتون معاصر نسل
خپل ابدي استوګنه غوره کړه خود اسمان دور بل شاتې شو نه کمرغه دی چې پـه داسې
اودخپلې سودا کړې پهچارو اواستعمار له شرق څخه دختیځ زمانه کې ژوند کوی چې د
ئې لاس پورې کړ لیکن ددې دفدا کارو محاصرو دوربانې له یوې خوا ټول مشران د قومی
ملك په لویدیځو خوندو کې د بر کتنه خپل کالی ټول کړل او تعمیر پهچورولو لګیادی اود
اباسیندپرغاړه یوقوم پروت وو یه ژرمخ، مات مغزی دغرب پر بل پلوڅخه ټول منورین اود
چې نو استثمارنه غاړه کېښوده لوری روان شوخو خپل آخرنی قلم خاوندان دنوی فکر په
اونه ئې دیردو فرمان او یاداری زهرئې هم ویاشه اودپښتنو ملك رنا کې دیوه سپېڅلې ملی ادب
منلای شوای نو محکه استعمار- ئې پاکستان ته یه ښه ګرانی کې یه تخلیق کې زیارباسی . اوس
چیان یه دې فکر کې شول چې ور کړ . خو پښتانه ژر ددښمن هم که د پښتو ادب ته وکتل
دخپلې سرمائې ه ګټې او نفعې ودې نیرنګ نه متوجه شول شی یه دیره لږه موده کې ئې
اخستلو دپاره ددې قوم یه تقدیر اود خپل ملی موجودیت او یه زړه پورې انکشافی سیر
اوبی وکړې دپرنګ چالونه سیاسی آزادی دا خستلو دپاره کړی دی اودنوی ادب دپاره لار
اوطلسم خولېږ نه وو، یه نیرنګ ئې یه مجاهدو بیل وکړ . پرانستل شوېده خـو د نوی
اوفریب ئې دپښتنو یه منځونو دغه دی خورلس کاله وشوه چې اسل دپاره دا دزبانی یاملرنی
کې قبیلوی تعصبونه پیدا کړل پښتنې دنیا وینه شوی اودخپل ور دمچې خپـل ذهن اوتا
دپښتنو یه کورنی چارو کې ئې ملیت داساسونو وتیټکولو او دماغ نـه داسی پـراخوالی
دلاس وهلو دپاره نقشې اودسیسی یاللونه ئې ملاتړلی دی، دیوې ور کړی چې لومړی دخپل
چوری کړې، خودې نیرنګونو خـوا دپښتونستان پښتانه د ملی ثقافت د راژوندی کېدو
یه اساس د پښتنو او فرنګ پاکستان داستعماری حکومت دپاره دیوه نه مړه کېدونکی
ترمنځ دوه سخت جنګونه پېښ سره دخپلې آزادیه داخستلو جذبه یه ځان کې پیدا کړی
او د دیورند یه خط سره ئې دیاره یه ملی قیام لاس پورې او بیا دیوه داسی تخلیقی ادب و
پښتنې دنیا سره پېله کړه . کړی دی اودپلی خوا یه نوله منځ نه راوستلو دپاره زیارو باسی
دلته نو استعمار آرام شولیکن پښتونخوا کې دملی ادب، هنر چې هغه دولسی ژوند ترجمانی
پښتنې دنیا د خپل پریکړی او ثقافت د راژوندی کولو وکړای شی اود پښتنې دنیا د
وجود له غمه یه پراوماتم کې وو دیـاره راز، راز سعـی او مستقبل دیاره غوره اوروښانه
د خدای ښې اوورځې نیرېږی کوشش شروع سوې دی او پښتانه لار اولیکه وتاکی د کرزی

ظاهر افق

اگوست کنت او اجتماعیات

ترټولو دمخه باید داووایو چې د اجتماعیاتو علم او اجتماعي علمونه فرق سره لري. اجتماعي علمونه یو په بل پسې په مختلفو پېړیو کې یا یو دمخه بل په پسې او یا بل دمخه هغه یو په پسې میدان ته راغلي او ترخپلو معلومو شرطو لاندې ئې تکامل کړیدی.

د اجتماعیاتو علم چې په نولسمه پېړۍ کې پیدا سویدی ډېر تازه او نوی علم دی. د دې علم مهمه موضوع په بشري جامعه او د هغوی په ارتباط پورې اړه لري یعنې وهغه علم ته وائي چې د یوې جامعې اړیکې او ارتباط د بلې جامعې سره وښئي. دغه علم دا خبرې واضح کوي چې یوه جامعه او یا یو فرد د بلې جامعې او یا یوه فرده سره څنګه تړلي دي، د دغو افرادو او جامعو ترمنځ مناسبات په هر لحاظ چې وي د اجتماعیاتو د علم په لمن کې تشریح کیږي.

څنګه چې دغه نوی علم د بشري ټولنې له خوا زیات اهمیت لري نو هغه اندازه بیا د ډېرو مشکلاتو په غېږ هم ورغلی دی داسې:-

سیانس یا تجربوي علم چې په لابراتوار کې کله د ټیوبو سره اخته وي او یا کله بیا د مایکرسکوبو پور هنداره پورته کښته کېږي، همداسې کله بیا په تلسکوبو بازي کوي هر یو پخپله ساحه کې نسبت وسوسولوجي ته ساده او خپلې تجربې د خپلو قوانینو په غېږ کې په اسانۍ سره اجرا کولای سي اما د اجتماعیاتو د علم د ډېر مشکلاتو څخه یو مشکل دا دی چې باید د مختلفو ټولنو مطالعه وسي، د هغوی د هرې نکتې څخه داسې معلوماتو نه لاس ته راوړه سي چې د هغو له مخې عمومي پرینسپونه وضع سي چې ګوا کې د داسې عمومي پرنسیپو استخراج یو اسانه کار نه دی او د لابراتواري عملیو او تجربو څخه خورا ډېر فرق لري.

که څه هم ټوله علمونه یو له بله لیري یا نژدې ارتباط لري او ډېر ځله پېښېږي چې یو له بله دې کومک سره وکي. نو د اجتماعیاتو علم هم د نورو علمو سره ښه اړیکې ساتي او نور ډېر علمونه د ده د پاره خدمت کوي. مثلاً انتروپولوجي، اقتصاد، سایکولوجي او تاریخ د اجتماعیاتو د علم د پاره ښه کومک کوي او ځان نسي ځنې ژغورلای.

د اجتماعیاتو په علم کې خورا ډېر، ډېر کتابونه لیکل سوي او هر عالم د خپلې ایدیالوجۍ پر اساس څه نه څه پکښې ویلي دي، خو بیا هم اګست کنت د دغه علم پلار بلل کیږي.

کنت په نولسمه پېړۍ کې د غربي اروپا خورا مشهور فیلسوف تېر سویدی (د ایدالیزم په دنیا کې) چې علاوه پر فلسفي نوشتو د اجتماعیاتو موسس هم یادیږي.

کنت چې لا وړو کې وو د یوه جلا احساس خاوند وو، ده خپل شخصي سبق هم ویلي دي او د یوې نجیبې کورنۍ څخه راغلي دي، ده په خپله ځوانۍ کې ډېرې مباحثې او مناقشې کولې طرفداران ئې نه درلوده د خپلې کورنۍ مذهب ئې هم په ټینګه غانده، او په وارو، وارو ئې پر خپل زاړه مذهب باندې

انتقادونه او نوشتې کړیدی .
دائې خورا خوښه وه چې دی په
یو ځای کې ودریږی او ځوا-
نانو ته لکچر ور کی . په هر
صورت یو متحول انسان وو څه
وختونه چې اور باندی تېز سوه
نو ئې بیا و مذهب ته مخ ور
واړاوه او دې خبری ته ئې فکر
سو چې مذهب او ساینس سره
تطبیقېدای سی . دلته نو نه
یواځی د مثبت ذهن خاوندان
ځنی خوابدی سوه بلکه د
مذهب خاوندانو هم اړیکی
ځنی پری کی ځکه چې ده مذهب
سر کشاوه، پداسی حال کی چې
داهیڅ امکان نلری، که څوك
وغواړی چې د مذهبی تارونه
سره وغژوی هغه حتماً یا سره
شکیږی او یا نه غزیږی .
خولنډه ئې داچې اګوست کنت
دخپلی دغی نوی مفکورې د پاره
یو کتاب د مثبتی فلسفی په نامه
نوشته کی په هغه کی ئې دخپل
زړه ټوله غوټی خلاصی کړی
اودا بیان ئې ور کړیدی چې
مذهب او سیانس سر سره خوری .
کنت دخپلی عمومی فلسفی له
مخی دافرادو د عمومی انکشاف
په باره کی وائی : چې ټوله انسا-
نان درې مسلسلی مرحلې لری :-
۱] مذهبی « الهي » مرحله .
۲] فلسفی مرحله .
۳] مثبته یا علمی مرحله .
دده له بیانه څخه داښکاره ده
چې یو انسان وار دواره د خدای
په پرستش اخته وی یعنی دغه
مرحله ئې یوه مذهبی مرحله
ده . تر هغه وروسته وده ته یو
فلسفی فکر ور پیدا کیږی څو
چې په اخر کی و یوې مثبتی
ساحې ته را ووځی .
د کنت لوړی درې مرحلې تر
یوه حده پوری درستی بولو، چې
ده هم ډېر ډېر بیانونه او نوشتې
پر کړی او د ثبوت د پاره ئې
خورا زحمتونه ایستلی دی .
که موږ وننني جامعې ته وګورو
او یا د تاریخ په زاویه کی د
پخوانی انسانانو مطالعه کوو
دا عمومی پرنسیپ نه لیدلای او
نه ئې قبلولای سو، چې هر فرد
دی حتماً لوړی درې مرحلې
تیری کی .
ځکه د مثال په ډول د نن ورځی
په علمی او مترقی جامعو کی
که وګورو هورې داسی خلک
خورا ډېر دی چې په مطلقه
مثبته او علمی مرحله کی واقع
دی نه ئې د مذهبی دورې
ورځی تیری کړی او نه ئې د
فلسفې مرحلې ډوب ډوب
فکرونه وهلی دی . بلکه په
یواځنی مثبته او علمی مرحله
کی تربیه او انکشاف ئې پکښی
کړیدی .
په دغه ډول په ډېرو بدوی
محیطو کی ډېر داسی خلک
سته چې نه د مثبت علم په مفهوم
پوهیږی او نه ئې فلسفی خوندور
فکرونه ځان ورایله کړی وی
بلکه پخپله هغه ابتدائی او
مذهبی دوره کی ژوند کوی
څنګه چې په خورا جامد شکل
د میراث په ډول ورته رارسیږی
د لوړو خبرو څخه به دا خبره
راوباسو چې هر انسان درې
مرحلې نلری .
یواځی هغه انسانان چې په
ابتدا کی په مثبته او علمی مرحله
کی نه وی او وروسته نو بیا په
مطلقه علمی ساحه کی ژوند
شروع کوی دغه درې لوړی
مرحلې ورته لازمی دی .
یعنی که سړی په مذهبی مرحله
کی وی او بیانو و علمی مرحلې ته
ځان رارسوی بایدی چې فلسفی

« نور په ۲۴ مخ کی »

لیکونکی تولستوی دشوروی اتحاد
نامتو لیکوال مترجم «سړبن»

وړکتوب

ای دوړ کینی بختورو ورځو !! اې هغی محبوبی زمانې چی بیرته نه راستونیږی !! ولی به دی په دوستی نه ویاړمه او تینګه مینه به نه درسره لرمه ، ستا په تشه یادونه سره می خاطر تسکین پیدا کړی او زړه می له ډیری خوښی څخه ونڅیږی .

اې محبوبی وړ کینی ! خاطرې دی وماته دخوندونو سرچینه ده چی د کلو کلو اوږده تنده می په ماتیږی .

اې وړ کتوب !! ستا په زمانه کی می روح آزاد او زړه ښادؤ ، غم می نه پېژانده او له فکرو اندېښنو سره می هډو کار نه درلودی . دزړه په اراده او د خاطر په غوښتنه سره به پاڅېدمه او کښېنستمه باور وکړه چی هغه ورځی دی دیوه شیرین خوب په څېر سره تراوسه پوری زما له یاده نه دی وتلی په هره اندازه سره چی راڅخه لیری کېږی په هغه اندازه سره غمونه راته نژدی کېږی نو بې اختیاره می روټی او ښکی له سترګو څخه راتوی شی او زړه می پر له واوړی .

ښه می په یاد دی چی ستا په بختورو ورځو کی به می پر وړو کی چو کی باندی دشیدو

پیاله په لاس کې وه او سترګې
به مې له خو به څخه نشوای سره
اړولای . د مهربانۍ مور و
شیرینو ویناؤ ته به مې غوږ
نیولی ؤ او د شفقت له ترانو څخه
به مې ئې خوندا خیستی کله چې
به ما په نیم خوبی حال کې ورته
وکتله . نو ددې به له خندا
څخه خوله ویړه شوه قسم دی
چې پرما به له ډېرې خوښۍ څخه
د اختر ورځ شوه . کله به د
خوب په خماری سترګو سره د
یوې وړې نقطې په څېر راته
وایسېدله سره له هر څومره
ځیرتوبه به ئې جسم بلکل
تغیر نه کاوه او دیوه عکس په
څېر سره به د سترګو په کسی
کې معکوسېدی زه به ولاړ شوم
او پر یوه ښکلی چوکۍ باندی
به مې سر تکیه کړ .

مور به مخاطبولم او راته ویل
به ئې: [نیکولینکه] بیا خوب
درغی که پورته بالاخانې ته
وخیژی ښه به وی ما به د خوب
له حاله څخه په یوه نامفهومه
کلمه سره جواب ورکاوه نه
بیدیږم مګر سره له دې به د
ورکتوب خوب په غیر ارادی
ډول سره غلبه راباندی وکړه
چاچه به وښورولم بیخی به مې له
ځایه څخه حرکت نشوای
کولای .

ښه مې په یاد دی چې د خوب په
عالم کې به مې د ګرانی مور
لطیف لاسونه چې زماله وجود
سره به ئې تماس کاوه مچوله
او له ډېره نازه څخه به کله پر
یوه اړخ او کله پر بل اړخ
واوښتم په رشتیا چې مور څونه
لوی نعمت او د رحمت فرشته ده
او مور لرونکی ماشومان
څومره بختور دی .

کله چې به هغه شم چې زما د
بیدیدلو په وخت به لګېدی
وآخرته ورسېدی نو مورجانی
به په یو عالم خواخوږی او
محبت سره په کرار، کرار
ښورولو سره ویښ کړم او د
شفقت ښکلی ګوتی به ئې ترښه
ډېره وخته پوری زما په طلائی
ویښتانو کې وهل کېدلې او هغه
خوږ آواز به ئې ما اروېدی
چې راته ویل به ئې: اې زما د
زړه سر او د سترګو تورو زویه!
ویښ شه چې د ویښېدو وخت
دی زما چې به هر څومره استغنا
ډېرېدله په هغه اندازه به ددې
شفقت او محبت زیاتېدی او بیا
به ئې په کوچنی ژبه راته ویله
ویښ شه خو د ویښېدو وخت دی
په خپلو پستو ګوتو به ئې یووار
یووار هم وتخولم .

هغه اطاق چې زه به پکښې
غزېدلم لږ روښنائی ئې درلوده
او سړه سنا به پکښې وه ددې
مسلسلو ښورولو به ګاهی قهر
راوستی اما ددې د محبت ږغو
به هم هغسی دوام درلودی په
پای کې به له خپلی دې سپین-
سترګی او ددې له هغه محبته
څخه شرمنده شوم را وبه غور-
ځېدم د مینی لاسونه به مې ئې
په غاړه کې ورواچوله او د هغی
سر به مې وخپل تټرته نژدې
کړ . په نیم کله کوچنی ژبه
به مې ورته وویله: هوښ کوه
چې خوابدی نشې، مورجانی ته
پرما ډېره ګرانه ئې، مور به مې
ومسله او په یو عالم شفقت او
مهربانی سره به ئې وخپل ځان
ته نژدې کړم او پرتندی به ئې
مچ کړم نو راته وبه ئې ویل
رشتیا ووایه: زه پرتا ګرانه یم
دا ګرانښت دی باید دوام ولری
او داسی نشی چې څو ورځی پس
دی له خوا او خاطره څخه بیخی
ووزی .

که زه مړه شوم او نه بې موره شې هم مې مه هېروه ، اې نیکولنیکه اوس به لا تینګه وعده راسره کوې دا به ئې وویله او بیا به ئې زما ننګۍ مچ کړ. زما به ئې به دې وینا سره او ښکلی لاستر کوڅه جاري شوی او لاسونه به مې ئې څو واره مچ کړه .

ښه مې به یاد دی چې ما به م د مور له غوښتنې سره دمخه تر بیدېدو د نماځنې په وخت کې وحقیقي معبود ته سرتیټ کړې او بیا عاجزي سره به مې وویله: یا که خدایه ! زما مور و پلار پخپل حمایت کې وساتې تر دې وروسته به بیا بې بستر وغزېدم او نلتك به مې پر سر را کش کړ روح به مې تازه او زړه به مې خوشحاله ؤ خیالونه او تصورونه به مې دیوه او دبل په تعقیب سره تله اوړانله دې تصوراتو له یوه پاك عشق او نیکۍ آرزو څخه سرچینه اخیستې وه د خپل ښوونکي [کارل ابوا ینچ] د نور بخت خاطرې به مې هم را په یاد ولې او له پریشانه حال څخه به ئې ډېر متأثر کېدم نو له یا که څښتنه څخه به مې دده د نېك بختۍ او سعادت غوښتنه وکړه او دا به مې وویله: الهي ما ته له ده سره د مرستې او معاونت توفیق را کړې، الهي زه به ته وله قوه سره حاضر یم چې تر دمخان فدا کړم .

کله چې به مې خپل دلو بوشیانو نه چې بو د چینې سوی او بل د چینې سپی ؤ په ډېره مینه سره وکتله بیا به مې وپاك خدای ته دمناجات لاس پورته او وبه مې وبل، الهي وتر او خلکو ته به خپل فضل او مرحمت سره سعادت ور کړې او بیوزلان به نعمتو سره ماړه او به راحتو سره آسوده کړې .

دا فکارو او تصوراتو د کدون په وخت کې به لت پرلت او ښتم به داسې حال کې به خوب بوودم چې ستر ګې به مې له اوښکو څخه د کې وې .

آیا وزړه نه مو لوېږي چې د ور کتوب د بې پروائي، عشق، او وفا حال به پېرنه راستر ن شي آیا بیا به داسې وخت راسې چې د بې آلایشه خوشحالي فضیلت او د بې ریا عشق آرزو زما د ژوندیوازنی سببونه شي؟ هغه زمانو دې غوښتنې چیرې دی؟

هغه د اوښکو تحفې چې ما نه ئې دادرا کاوه څه شوې؟

اې ژوندیه! دځه در او اثر و بېتې دې زما پر زړه بار کړه چې د ور کتوب د بختورو ورځو خوښیو د مفارقت لاس را اوږد کړ او اوس ئې غیرله نشو خاطرو څخه بل شی زما په متخیله کې نه دې پاته .

بناغلی ارمانجن

دلیکلو قریحه

وائي چې کانت دارو یانو میالی فیلسوف به تل د خپلې خونې و کړکۍ نه تر دې کښېنستې او بو برج ته ئې چې دده د کور پر مخامخ ولاړو په ځیر ځیر کتل نو وروسته به ئې دلیکلو قریحه و پرانستل شوه او د خپلو نه هیرېدونکو آثارو به لیکلو به ئې پیل و کړ . کلونه به دې دول تېر شول خو دده د خونې د کړکۍ په مخ کې د سړك پر غاړه لوئې ونې شنې شوې . کله چې به نو موړی فیلسوف د کړکۍ څنګ نه راغی او غوښتل به ئې څه ولیکي نو هغه برج به ئې لیدلای نه شوای ځکه دده او د برج تر منځ جګې سایه دار ونې *

د افغانستان لرغونی تاریخ

لیکونکی: میرغلام محمد غبار

د سکندر په مقابل کی د افغانستان دفاع

د افغانستان ملك په خپل تاریخی خط سیر کی دوه ځله د مغرب د جهانګیرو قوتو سره مخامخ شوی دی یو وار د مسیح د میلاد نه درې سوه او څو کاله وړاندی د یونان او مقدونی سکندر له لښکرو سره او بل وار د نن څخه دوه سوه او څو کاله پخوا د برتانیې د دولت سره خو د دغو وروستیو لښکرو سره نښته په دوو جلا، جلا ډولونو شوې ده.

لومړی ډول ئې: یو راز غیر مستقیم او بالواسطه ؤ، خو دوهم ډول ئې: بیا مستقیم او په درې ګونو جګړو وېشل شوی دی. په هر حال په دغو ټولو پېښو کی افغانستان یوازنی هیواد دی چی په ختیځ کی ئې د خپلی آزادۍ او خپلواکۍ په هکله د هر بل هیواد نه زیات د فرنګی د لښکرو او قوت سره ډغرې وهلی دی او په نتیجه کی ئې د بل هر هیواد نه ترمخه خپل استقلال بیرته اخیستی دی.

زموږ د خبرو موضوع دلته هماغه د یونان په مقابل کی د افغانستان دفاع ده او د انګلیس په مقابل کی د افغانستان د دفاع نه دلته څه نه وایو.

هغه مشهور جهان ګیر سکندر چی د نړۍ په تاریخ کی له پنځو تنو نه زیات کسان ور سره سیال نه دی په ۳۳۴ ق م کال کی د نړۍ د یوې برخی آبادو هیوادو د رالاندی کولو پسې راولاړ شو، د څلور کالو په موده کی ئې وړه آسیا، د مصر او ایران ستر هیوادونه ونیول په همدغه سلسله کی د یوه ستر فاتح لښکر په ملګرتیا په ۳۳۰ ق م کی زموږ خاوری افغانستان ته راغی غوښتل ئې د دغه کوچنی هیواد نه په منډه تېرشی او د هند د هیوادوالو سره ګوتی ماتی کړی.

لوی سکندر چی پخوا ئې ځان د مور او پلار له خوا «هرکولیس» د قوت او «آئیل» رب النوع او د یونان د روایاتو قهرمان باله او په مصر کی ئې د «امون» د زوی لقب چی د هغه ځای د فراعنه ؤ عنوان ؤ، غوره کړ او دادی اوس چی د هغو ټولو سترو فتوحاتو سره افغانستان

---

* ولاړی وې او دده د لیکلو د قریحې مانع به ګرځېدلی څو په پای کی فیلسوف ناچاره شو چی د ښاروالی و ریاست ته شکایت وکړی ښاروالی هم څرنګه چی د هغه ستر فیلسوف وعلمی مقام ته خاضع وه نو ځکه ئې امر وکړ چی د سړك د غاړی جګی ونی له بېخه ووهی څو نومیالی فیلسوف د لیکلو په وخت کی هغه برج ووینی کله چی د کړکۍ له مخی څخه درختی لیری شوی نو د نومیالی فیلسوف کانت قریحه د لیکلو د پاره په کار ولوېدله او نسبت و پخوانیو لیکنو ته ئې دوه غوره او نه هېرېدونکی آثار له ځانه په یادګار پرېښوول.

ته راغی دومره مغرور او کبرجن
شوی ؤ چی د خدائی دعوه ئې
وکړه خو ډېر ژر ئې دې خبری
ته پام شو چی افغانستان هغه
شان نه دی چی ده فکر کړی ؤ .
سکندر په طوس کی ؤ چی
ساتی بارزانس د هرات محلی
حکمران ده ته ورغی او د خبرو
په ترځ کی ئې د یونانیانو د
سوق الجیشی او د ورسره
شخصیتونو او لښکرو پوره
پوره اندازه واخیسته او بیرته
راوګرځېد .
ساتی بارزانس دومره صبرو کړ
چی څنګه سکندر د هرات نه
مخ په بلخ وخوځېد او خپلی
لښکری ئې په هرات کی
پرېښودی نو په دغه وخت کی
ده لاس په توره کښېښو د یونانی
منصبداران او لښکر ئې له
مینځه یووړل . بیا سکندر د
خپلو متصرفه علاقو د ساتنی
لپاره بیرته راوګرځېد خو
ساتی بارزانس ئې نه موند او
مجبور شو چی یوه جنګی کلا
ودانه کړی، لښکری پکښی
واچوی او خپله مخ په کندهار
مارش وکړی .
بسوس د بلخ محلی حکمران
چی د ایران د هخامنشی کورنۍ
دریم داریوش ئې وژلی ؤ او د
نوی دولت تیږه ئې ایښی وه
فرصت وموند چی د سکندر
په مقابل کی د دفاع تیاری
ونیسی، د سیستان محلی
حکمران هم ځان ګوښه کړ
او د سکندر لاره ئې خوشی کړه
خو چی سکندر راورسېد او
وائی ورېدل چی ساتی بارزانس
بیا په هرات یرغل ور وړی او
یونانیان ئې وهلی ټکولی دی
نو دغه وخت سکندر د هیواد
د مشرانو په تدبیر پوه شو نو
ځکه پخپله بیرته راونه ګرځېد
خو ۷ زره پلی او سواره ئې
هرات ته واستول او ځان ئې
کندهار ته وایست .
پدغه وخت کی بیا خبر ورغی
چی دا پلا بیا ساتی بارزانس په
هرات یرغل ور ووړ او بسوس
دوه زره کسان ملاتړ وراستولی
دی . سکندر په ایران کی
خپلو قومندانانو ته امرور کړ
چی په هرات کی د یونانیانو
مرستی ته ورشی او خپله ئې له
کندهاره هم یو ټولګی عسکر
ورواستول . ساتی بارزانس
چی له دریو خواؤ محاصره
شوی ؤ نو د دښمنانو سره ئې
دومره توریالی جنګ وکړ
خو آخر د جنګ په میدان کی
ووژل شو سکندر په داده زړه
مخ په کابل راروان شو خو د
غزنی او هزاره ؤ په غرو کی ځای
په ځای د دفاع سره مخامخ شو
خو چی پروان او کابل ته ورسېد
بسوس د هندوکش شمالی ډډې
ته ټولی لاری ورانی کړی او د
حیواناتو آذوقه او واښه ئې له
مینځه یوړل، خپله له جیحون نه
تېر شو او د هغه ځای ټولی بېړۍ
ئې وسوزولې او د شین ښار
(شهر سبز) په شاؤخوا کی
قریبا د ۷۰۰۰ سپاهیانو په
سنبالولو بوخت شو . سکندر
صرف په ۳۲۹ ق م کال کی
همدومره وکولی شول چی په
هندوکش او جیحون راواوړی
خو متاسفانه چی بسوس د ناروغۍ
په وجه د دښمنانو په لاس کی
بندی شو او په ځای ئې د باختر
نه یو بل سړی چی سپتیانس
نومېده را ولاړ شو . دا سړی
د سکندرو مخی ته په داسی حال
کی چی ان تر سیحون پوری
تللی ؤ ودرېد . سپتیانس لکه
د نورو افغانستانی ملګرو پشان

د ملي دفاع سیاست غوره کړ
بدې ډول چې د یونانیانو د
مستقیمي مقابلې نه منصرف
شو او د لارو د خرابولو او د وښو
او آذوقې له مینځه وړلو او په
داړو او دا کوئي د سکندر د
نظامي فرعي اډو په ضد فعالیت
شروع کړ نو ځکه ئې د ملي
داوطلبو لښکرو سره په سمرقند
برغل وروړ او هم ئې د سکندر
امدادي لښکر د زرافشان په
ناوه کې له مینځه یوړ سکندر
مجبور ؤ شخصاً ئې مقابلې ته
ورشي خو هر کله چې هغه تر
مخه بلخ ته تللی ؤ سکندر هم
باختر ته راغی او نولس زره
ملاتړ عسکر ئې له یونانه ورته
راورسېدل پدغه وخت کې
طوس انقلاب وکړ او سکندر
هغه ځای ته خپل عسکر له پنځو
لارونه واستول او د هغه ځای
وګړي ئې لاندې کړل، وروسته
ئې شخصاً په مرو برغل وکړ
چې په پای کې د آریمانس
محلي مشر د ډېرې کلکې دفاع
نه وروسته بندي شو او په دار
وځړولی شو.
په هر حال لدې نه وروسته
سکندر بیا د سیند د سین پر

لیکونکی ډیل کارینګی
پښتو کوونکی انوار الدین «انوار»

انتقاد د عظمت اثبات دے

که خلک بې موجبه پر تاسو انتقاد وکړی مه خوابدی کېږئ ولی چې انتقاد هغه مبارکی او تعریف دی چې په مخالفه لهجه تاسو ته ویل کېږی.

په ۱۹۲۹ عیسوی کال کې د امریکا په زیاترو علمي ټولنو کې یوه غوغا جوړه او په نتیجه کې ئې انعکاسات د هغه وخت د مطبوعاتو او خپرونو په وسیله میدان ته راووتل.

د دې غلغلې سبب د «روبرت هاچنسون» د ېرش کلنی ځوان هغه تقرر ؤ چې د شیکاګو د پوهنتون د رئیس په حیث انتخاب سو دا باید په نظر کې ونیول سي چې پدغه عصر کې دغه پوهنتون د امریکا د لویو علمي موسسو څخه شمېرل کېدی.

څه وخت چې نوموړی د رئیس په حیث انتخاب سو د یو لړ هم عصره علماؤ د انتقاداتو په اثر د شکنجې او تشنج سره مخامخ سو، دا تنقیدونه نه یوازی دده پر بې تجربه ګی او طفلانه افکارو کېدل بلکه دده پر اصل او نصب ئې داسی لیکنی وکړی چې په پای کې ئې نو دده د مخنی سوانح په استناد د «بېل» د اکاډمی پېشخدمت ثابت کی. کومه مېلمستیا چې د روبرت د ټاکل کېدو په

غاړه د اندلس د غرب نه مخ په شرق ولاړ او په ۳۲۶ ق م کې د ننني راولپنډۍ په دوه میلی کې تاکسیلانومی ځای ته ورسېد او په دغه ډول ستر امپراطور وکولای سو چې له څلورو کالو له ربړ او پر له پسې جګړو او زیاتو تلفاتو نه وروسته د افغانستان له هیواد نه تېر سي پداسی حال کې چې ده د څه محدودو جګړو په اثر د څلورو کالو په مده کې د وړې ایشیا ټول هیوادونه سره له مصره او ایرانه فتح کړی وو. [تا کنه]

مناسبت جوړه شوی وه دده د نژدې دوستانو څخه یوه سړی د «روبرت» پلار ته داسی اظهار وکی:

«بیچاره روبرت دی چی ننني اخبارو او مجلو په سپکه او ناوړه مقالو تر تنقیداتو لاندی نیولی دی، کوم اهانت دی چی ستا زوی ته د هغه نسبت ندی سوی؟» د روبرت پلار د پورتنی جملې جواب په متینه اراده داسی ورته ووایه «ټول تنقیدونه او ناروا نسبتونه کوم چی زما زوی ته ئې نسبت کیږی زه په اخبارو او مجلو کی لولم خو د هغو په باره کی زما نظریه بېله او عقیده لرم چی دا انتقادونه ټول زما د زوی د شخصیت پر عظمت شاهدی ورکوی دا ځکه څوك چی هر څومره لوړ ځی په هم هغه اندازه د انتقادونو هدف ګرځی. ډېر خلک پېژنم چی د انتقاد او ښکنځلو څخه حظ او خوند اخلی پدې وختو کی می یو لیك چی د یوې مېرمنی لخوا د خیرئې ټولنی د رئیس په عنوان لیکلی شوی ؤ مطالعه کی. پدې لیك کی ډېر انتقادونه او یو لړ تهمتونه وهغه رئیس ته لیکل شوی ؤ چی په آخر کی ئې نوموړی پدې جرم په [۸] ملیونه ډالره د هغی خبری موسسې څخه چی دة ئې ریاست پر غاړه درلود په نامشروع ډول تصرف کړیدی ملزم ښوولی ؤ.

زه پدې کی هیڅ شك نه لرم چی د دغی ښځی ټولی لیکنی د تهمت د لاری صورت نیولی ؤ ولی چی ما هغه رئیس ښه پېژندی چی یو فعال او صادق سړی ؤ دا چی دغی ښځی په هغه پوری یو لړ تهمتونه تړلی ؤ د هغه موجبه صرف دا وه چی د دې مېړه چی هم د کومی موسسې آمریت پر غاړه درلود د دغه رئیس سره یو ډول رقابت درلود چی د دغی ښځی منظور د همدغه رئیس د شخصیت د مقام ټیټوالی ؤ پدې باره کی شو پنهاور داسی نظریه څرګندوی. «بیعقلان خلک پدې چی یو لوړ او نیکنام سړی تر تهمت لاندی کی یو قسم لذت اخلی» او دا کښته او ناوړ عادت په یوه مخصوصه طبقه اړه نلری.

د ګرانو لوستونکو د پاره یو بل مثال داسی راوړم:-

«دریا سالار راپیری، چی د شمال قطب ئې کشف کی پسله هغه چی نړۍ ئې بریالی مسافرتو ته حیرانه تللی وه او یا دا چی د پخوانو عالمانو آرزوګانی ئې ورتر سره کړی او په هغو مسافرتو کی د داسی سختیو سره مخامخ سو، چی هر ګړی ئې د مرګ احتمال کېدی چی پدې سلسله کی معالجو طبیبانو دده د پښو اته ګوتی پدې سبب چی وچی سوی وی ځنی پرې کړی دی د هغو مشکلاتو په اثر چی د سفر په وخت کی ورته پېښ شوی ؤ نژدې ؤ چی خپله عقلی موازنه دلاسه ورکی خو کله چی کامیاب خپل هیوادته را غبرګ سو حاسدانو او لنډ نظرو خلکو پدې تهمتی کی، چی د سفر کومه تخصصیه چی ورکړه شوې وه ده پخپلو دوستانو مصرف کړیده، دغو انتقاداتو دوام پیدا کی، او په نتیجه کی ئې د همدغه شق ډېر شوقمندان د خپلو نظریاتو څخه وګرزول. سالار پیری هم د دې قسم اکتشافاتو څخه ځان ګوښه کی او اضافه ئې د خپله ذوقه سره سم علمی مسافرتو ته ادامه ورنکړه

«نور په ۲۴ مخ کی»

«پاڼینو»

کره کتنه

د مذکر جمع

یو وخت چی د پښتو له پاره کم ابتدائی کار سوی دی خو وسو، مگر څه چی نور کار باید له هغه آغازه څخه پر اضافه کړه سوی او پر مخ پسې تللی وای نه ولاړی، او نه خو ئې ارس څه تلنگ معلومیږی بلکه پر ځای د دې چی یو ښور او حرکت پیدا سوی وای خو پیدا نه سو مگر څه چی و منځ ته راغله یو غونځښت او ځای پر ځای سره اوښتنه وه چی ښه له ډیره وخته څخه دوام لری. خو دغه غونځښت هم د شخصی مفادو له پاره دی چی کله، کله خو بیا څوك ؤ څوك یو تصنعی احساساتی رنگ هم ور کوی ...

لنډه ئې دا چی غونځښت ژبه مروړی او غوړوی ئې نه یعنی د یوه خولۍ د بل پر سر ور ایښوول یا نه ایښوول، و یوه شی ته له یوه نامه څخه بل نوم ور کول یا نه ور کول، ځینی مواد له یوې شمېرنی څخه تر بلی شمېرنی لاندی راوستل یا نه راوستل د موضوعاتو الفاظ وراړول یا نه اړول؛ په دغو څو محدودو مؤخذو کی بېله کم نوی څر که څخه پورته او کښته کېدل یا نه کېدل ... ټولی داسی پیښی دی چی کم ژبنی اساسی اهمیت نه لری. په هره توگه اوس خو دغه مرحله راغلی ده او تر یوه وخته پوری به پایېږی، مگر علتونه ئې بیا نول په دریاب کی د کب گپ دی او بس.

* * *

په دمخنۍ گڼه کی د «مذکر جمع» په باره کی یوه عمومی کتنه در وړاندی سوه، چی ښاغلی بختانی دده په نوموړی لیکنه کی سر بېره پر خپلی استقراء باندی له دغو پسې څلورو مؤخذو څخه استفاده کړې ده :-

۱- د پښتو ژبی لیاره ...؟

۲- لیکوالی: له دغی څخه ئې د پښتو ټولنی یو څو فیصله سوی کلمات را اخیستی دی.

۳- کابل مجله: د ښاغلی تږی مقاله چی د خوشحال خان د کلیات پر ځینو مړو جمعو باندی ئې لیکلی او ښاغلی بختانی ځنی را اخستی دی.

٤- پښتو گرامر: په دمخنۍ کره کتنه کی هم د ښاغلی رښتین د گرامر یادونه سوې او اوس به د دغه گرامر او د ښاغلی بختانی د لیکنی تر منځ یوه مقایسه وړاندی سی. د دغو دوو لیکنو د مشترکی موضوع تر منځ مقایسه په دې نیامت کیږی چی ښاغلی لوستونکی د یرلس کلن پخوانی اثر او د یوې سږ نۍ نوی لیکنی تر منځ تحول او تشابه وگوری، چی کم تغییر او نوی والی پکښی پېښ سوی دی. مگر په دغی

پرتلنی کی به له مثالو څخه چندانی څه ونه ویل سی، ولی چی یو خو اکثره سره مشترك او یا سره بېل دی او بل پر دغه اړخ باندی تر مخه هم بحث سوی دی. اوس به یوازی د هغو موادو پرتلنه وړاندی سی چی په دغی موضوع کی د دوی له خوا څخه تشخیص سوی دی.

ښاغلی رښتین د خپل پښتو گرامر له ۵۲ سم مخه څخه بیا تر ۶۳ تم مخه پوری، د [جمع مذکر و قواعد ساختن آن] تر نامه لاندی لیکی:

۱- اسما و صفات مذکر یکه به یای ماقبل مفتوح مختوم و در اول یا وسط آن خج [فشار آواز] موجود بوده خواه ذیروح باشد یا غیر ذیروح بسیط باشد یا مرکب، تنها به به یك صورت یعنی تبدیل یای معروف جمع میشود.

ښاغلی بختانی بیا په خپله مقاله داسی کی کښلی دی:-

۱- که د مفرد نوم او صفت په آخره کی ملینه [ی] وی نو جمع ئې په دې شکلونو راځی:

الف: که په نوم او صفت کی خج وی نو وروستۍ ملینه [ی] په معروفه [ی] اوړی.

۲- اسما و صفاتیکه به یای ملینه انجامیده باشد و خج در اول و وسط آن کلمه موجود نباشد این گونه اسما بر دو گونه است.

ب: چی په نوم او صفت کی خج نه وی نو جمع ئې دوه شکله لری:-

الف: غیر ذیروح: اسما و صفات غیر ذیروح قرار قاعدهٔ نمره «۱» یای آن به یای معروف تبدیل شده جمع ساخته میشود.

اول: په بې سا نومو او صفاتو کی ملینه [ی] په معروفه [ی] اوړی.

ب: ذیروح: اسمای ذیروح و صفات ذیروح به دو صورت یعنی هم به یای معروف و هم به علاوه نمودن «آن» در آخر بطوریکه یای ساکن آخر مفتوح و حرف ما قبل آن ساکن گردد، جمع میشوند.

دوهم: د ساکښو په نومو او صفاتو کی «۱»: ملینه [ی] په معروفه [ی] هم اوړی، او «۲»: په آخره کی ئې [ان] هم زیاتیږی د [ی] نه مخکی توری ساکن کیږی او پخپله [ی] په زور خوځیږی یعنی د دغه شکل جمع دوه صورته لری.

۳- اسمائیکه در آخر آن یای ملینه نسبتی ایکه مقصود از آن نسبت به مسکن و وطن میباشد، آمده باشد، نیز به دو صورت مذکور جمع میشود. (په پورتنی دوهم پوری اړه لری او مثالونه ئې سره گډ دی).

۴- هر اسم و صفت مفرد مذکر یکه در آخر آن یای معروف یا واو معروف نسبتی موجود باشد یا واو آن مفتوح و حرف ماقبل آن ساکن گشته در آخرش [ان] علاوه شده جمع ساخته میشود.

۲- که د مفرد صفت په آخره کی معروف [ی] وی، نو د جمع په صورت د دغه [ی] نه د مخکی توری حرکت له منځه ځی دغه [ی] زور پیدا کوی او په آخره کی ئې [ان] زیاتیږی.

۵- هر اسمیکه در آخر آن واو معروف اصلی باشد، اسما و صفات مختوم بالف، و همچنان اکثر صفاتیکه مختوم به های جلی باشد در آخر آن علامهٔ «گان» علاوه شده جمع ساخته میشود.

٤- که د مفرد نوم په آخره کې معروف [و] وی، نو جمع ئې په دې صورتونو راځی:-

الف: په جمع کی ئې «ګان» زیاتیږی.

۳- که د مفرد صفت په آخره کی [الف] وی نو جمع ئې دوه شکلونه لری.

الف: د پښتو القابو په آخره کی «ګان» زیاتیږی.

٥- که د مفرد صفت په آخره کی [زور] وی نو د جمع په آخره کی ئې «ګان» زیاتیږی.

۱،٥- اسمای «کدو، کندر، ماکو، تانکو» بـه علاوه نمودن «ان» هم در آخر جمع میشود.

٤،ب: په جمع کی ئې «ان» زیاتیږی: کدوان، کندوان، هندوان.

٦- اسمای بیګانه مستعمل در پښتو که اصلاً پښتو نه بوده و بالف مختوم باشد جمع آن به علاوه کردن «یان» در آخر تشکیل میگردد.

۳،ب: دنورو په آخر کی ئې «یان» زیاتیږی.

۲،٥- کلمات «شفتالو، زردالو کچالو» به حذف واو و زیادت «ان» در آخر هم جمع می نمایند.

٤،د: په جمع کی ئې «ان» زیاتیږی او «و» ئې غورځی. «اوبیږی»: کچالان، شفتالان زردالان.

۷- هر اسم مفرد مذکر ذیروح وعموم صفاتیکه در بین آن واو و یای ساکن آمده باشد اگر در مفرد مؤنث آن واو حذف گشته باشد در حین ساختن جمع واو و یای آن بالف تبدیل گردیده، در آخرش های خفی علاوه نموده جمع ساخته میشود.

۸- که د مفرد نوم او یا صفت وروستی نوری صحیح ساکن نوری وی او ترهغه د مخه معروف یا مجهول «و» وی، نو د جمع په صورت کی د دغه «و» پر ځای «الف» راځی او ترهغه د مخه نوری په زور سره خوځیږی او وروستی ساکن نوری هم په «زور کی» خوځیږی.

۸،الف: آنکه «صفاتیکه» جمع نداشته و درحالت افراد وجمع یکسان استعمال میشود

۱٦- ځینی صفتونه شته چی د مفرد اوجمع دیاره یو راز استعمالیږی.

۹- اسم مفردیکه به های خفی ویا واوملین مختوم باشد جمع آن به آوردن «ونه» در آخر تشکیل وهای مذکور درحین جمع ساختن ساقط میگردد.

٦- که د مفرد نوم اوصفت په آخره کی «زوره کی» وی نو جمع ئې دوه صورتونه لری:-

الف: په آخره کی ئې «ونه» زیاتیږی او د مفرد وروستی «زوره کی» پـه پیښ سره بدلیږی.

۹- استثنا: اسمای «لپوه، کارغه، مارغه، وپښته» [۱] مستثنی شمرده شده وبه «ان» جمع میشوند.

٦،ب: په آخره کی ئې «ان» زیاتیږی او د مفرد زوره کی به زور بدلیږی.

۱۰- اسمای دوحرفی ویك هجائی که ذیروح ویا مختص به ذیروح باشد باسکان حرف اول و علاوه کردن های خفی در آخر جمع میگردد.

۷- که د ساکنو دوه حرفی مفرد نوم او یا صفت وروستی

[۱] کارګ، مرغه، وپښته «پ»

توری صحیح حرف وی او دغه نوم او صفت یو سلیبل واری نو د جمع پاصورت کی ئې لومړی توری ساکن کیږی او وروستی توری په زوره کی سره خوځیږی.

۱۱- همه اسمای غیر ذیروح که مختوم به حرف صحیح باشد و جمع آن موافق مادهٔ «۷» ساخته نشود به زیادت علامت «ونه» در آخر جمع میشوند و در بعضی اسما حروف امدادی نیز جهت تخفیف ساقط میگردد.

۱۰- د بې سا شیانو نومونه چی په پای کی ئې صحیح ساکن توری وی، او د تیرو قاعدو له مخه ئې جمع نه وی شوی نو په آخر کی ئې «ونه» زیاتیږی.

۱۲- تمام اسمای ذیروح و صفات مختص به ذیروح که به حرف صحیح منتها باشد عموماً به زیادت «ان» در آخر جمع میشوند.

۹- د سا کښو او بوټو نومونه او صفتونه چی په آخره کی ئې صحیح توری وی په جمع کی ئې «ان» زیاتیږی.

۱۲ ب: بعضی پښتانه برخی از اعضای حیوانات را به «ان» نیز جمع مینمایند چون: سوک، مټ، نوک، څټ، لم.

۹ «۱» نوټ: په ځینو محاورو کی دا نومونه هم په «ان» جمع سویدی: سوک، مټ، نوک، څټ، لم، خنډ.

۱۲، د: بعضی پښتانه برخی از اسمای مختوم به حرف صحیح را خواه ذیروح باشد یا غیر ذیروح سمعاً چنین جمع میکنند، که فتحهٔ ماقبل آخر آن را به زور کی تبدیل نموده جمع میسازند.

۱۱- ځینی داسی نومونه او صفتونه هم شته چی د وروستی نه مخکینی توری ئې په زور خوځیږی او په جمع کی دغه «زور» په «زوره کی» بدلیږی په عین حال کی دغه کلمات د نهمی او لسمی قاعدې سره سم هم جمع کېدی شی.

* * *

۱- اسمای جنسی: تمام انواع اسمای جنسیکه به های تأنیث و یای مجهول مختوم نباشد اسمای جنسی مذکر بوده برای قلیل و کثیر، مفرد و جمع بیک صورت استعمال گردیده و جمع آن ساخته نمیشود.

۱۲- د جنس نومونه چی د تأنیث نخښی پکښی نه وی د مذکر جمع ګڼل کیږی او په لیک او وینا کی د هغه تر حکم لاندی راځی.

۲- اسم فعلی یا مصدر در پښتو جمع نگردیده، و لفظ مفرد آن برای اقسام زیاد آن فعل استعمال میشود.

۱- تمام مصادر پښتو دارای حکم جمع مذکر بوده و همه افعال، صفات و روابط با آن بصورت جمع مذکر استعمال میگردد. [پښتو گرامر ۱۶۶ تم مخ].

۱۳- ټول مصدرونه یخپل شکل د جمع حکم لری، لکه: وهل، خوړل، لیکل...

آن صفات عمومی ایکه به حرف صحیح مختوم بوده... برای مفرد و جمع مذکر یکسان استعمال می یابد.

۱۶- ځینی صفتونه شته چی د مفرد او جمع دپاره یو راز استعمالیږی.

زمانیکه خواسته باشیم دیگر امثال یک اسم خاص را در یک حکم با آن شریک سازیم در

آن وخت میتوانیم اسم خاص را بغرض عمومیت حکم و شمول امثال دیگر جمع نمائیم مثلاً:

رحمان بابا گوید :-

خوشحالان او دولتان می غلامان دی

زه رحمن په پښتو ژبه عالم گیر یم

مثال دیگر: په دې وطن کی ډېر میرویسان او محمودان تیر شوی دی .

۱۷- خاص نوم په ځینو خاصو وختونو کی جمع کېدی شی، هغه دادی چی تر یو حکم لاندی څو تنه راشی او یا څو تنه په یوه نامه وی، لکه:-

خوشحالا او دولتا می غلامان دی

زه رحمان په پښتو ژبه عالم گیر یم

زموږ په هیواد کی ډېر میرویسان او محمودان تېر شوی .

۵- در اسمای صوت فقط جمع «ډز، درز...» به الحاق «ونه» موجود بوده و جمع باقی اصوات استعمال نشده است .

۱۰؛ «۱» نوټ: د اصواتو هغه نومونه چی د یوغږ نه حکایت کوی د هغو جمع د پورتنۍ قاعدې له مخه کیږی: ډزونه؛ درزونه .

* * *

دغه وه د نوموړو دوو لیکنو مقایسه او نور قضاوت ئې و ښاغلو لوستونکو او د حق خاوندانو ته ور پرېږدم، چی دوی په پورتنۍ پرتلنه کی اختلاف وینی که تشابه، لږ ئې وینی او که ډېره او یا که ئې هیڅ نه پکښی وینی . په هره توگه خوزه دغه آرزو لرم چی د پښتو له پاره په پښتنی اراده هغه کارونه وسی چی ورته ښایېږی او پښتانه ضرورت ورته لری . یوه ژبه په مکررو لیکنو او یا خبرو سره چی هغه هم اکثراً څه اساس او مغز نه لری؛ نه پرمخ تلای سی او نه له نورو سره څه سیالی په کولای سی، بېله دې چی د نور پاتهوالی سبب ئې سی .

فریـــــــاد

خدایه ستا په ړنگ جهان کی چی ودانی بنگلې دی
د معمار د لاس تنا کی د مزدور تودې خولی دی

دا په بڼ کی چی گلونه بهارونه تری سازیږی
د باغوان د زړه په وینو آبیاری مومی غوړیږی

مگر واک د بوئیدو ئې په قسمت د باغوان نه سته
د غریب سړی تاتوبی ستا پر مځکه آسمان نه سته

کندهاری «رشاد»

ښاغلی عبدالرازق «پالوال»

(غمېدلي او غمولي)

را په څرخ سوې نوری هېښمی
او به خړی را او ریږی

د غریب له کندوالو څخه
سوی کرږی ولاړیږی

د سېلاب کښتۍ ئې کور سو
که د پاته پر نړیږی

هسکه! څه ده پېښه سوې؟
چی ځانګو د وېر ځنګیږی

لوی کوچنی دی ټال له ټاله
که د رزق په دار ځړیږی

د غریبو په کېږدۍ کی، چی نه مرانده وی نه کراسته
شپه او ورځ لکه کښتۍ وی د طوفان پر اوږو ناسته

یا له یخه په ژړا دی
و ساړه نغری ته ریږدی

ورته راسی ورته کښینی
ځنی خوځی بیائې پرېږدی

له یوه ځایه و بل ته
پر چاودلو پښو ور لېږدی

ځینی مځکی ته سر ولاړسی
کړی ئې پورته بیائې کښیږدی

د غریب له ساړه آهه؛ سره وچاودله کاڼی
ونی هم په رېږدېدو سوې، ځنی ورژېدې پاڼی

یا خواړه د ماښام نه سته
مونانیان بیدوی وږی

دوی خواړه له مورة غواړی
و سترخان ته وهی کرږی

و موړتیا تې خوله وتلې
وچی شومی ته زلخوږی

خیال د خان د ښو ښادیو
وهی دوی هر آن پر پېږی

غاښ چیچی او سر شکوینه
مخ په خاورو پوری موږی

مړه به سی ماړه به نه سی، نه بې زغ د خوښۍ واورو
څو د مرګ په چپلاخه، ئې خوله ډکه سی له خاورو

یا وتش دیګ ته راټول دی — په ژړا ئې ځنی غواړی
مګر ډك ئې کړی په اوښکو — پر ړندې کی سترګی دواړی
وسپېره ښانك ته ناست دی — یو سوګلۍ وهی بل ژاړی
ورور ځنګیږی، خور زو کلیږی — مور ئې ګرځی په ولاړی
نه کښېنی نه پرېوتای سی — وېر نیولې ده تر غاړی

داڅه ژوند څنګه دنیاده، چی څوك وږی څوك ماړه دی
مړه، زاړه ئې ښه یادیږی، ګناه کاره ئې واړه دی

یا ئې نه لاری په ځان کی — بې کالیه لڅ لپړ دی
بې نغاړیه، بې برستنه — پر ښوی ښاك پاته لغړ دی
خاوری خلی پر دوړیږی — مور دی ومری چی ککړ دی
د خان زوی باندی سپریږی — د قسمت په خوا کی پړ دی
ده عدم په لومو ځوړند — اندېښنو پرې ایښی لوړ دی

که یاری کوی ور پرې کړیء، لیری لیری امیدونه
پر بارو به کله راسی، دا ښاخلې بې پیوندونه

یا ئې ده تیاره په کور کی — لوی کوچنی ورته نه ښکاری
ځکه څه ور پېښه سوې — چی وهی ټوله کوکاری
یو ناورین باندی جوړ سوی — ژړولی ئې له واری
کوم سر کوږی پر اوښتی — اړولی ئې له لاری
ګډی وډی ئې په بډو — دی ور کړی د ژوند چاری

پېغله لور بې وی پر بنو، و زاړه ته کښېنستلې
پلار، بخښلی د دروږ وی؛ یا په پور کی چا ایستلې

یا ئې نه لیده په سترګو — مور په زوی کی ده ختلې
که ئې پېغله خرابه کی — وارهډ ته پرې وتلې
هم مرغۍ ئې د سینې له — پوښ قفسه الووتلې
د وېرجنو قافله ئې — دروازې ته درېدلې
نېك مرغی ده د خورانو — له بنې څخه بېرېدلې

نو ئې مرګ دی مېلمه سوی، موراو خور ده بوره وراره
چی لوېدلې ده له لاسه؛ د اسمان د مخ هنداره

یا ناروغه پکښې غوځار دی — د خراب ژوند له قیاسه
بې دارو بېله دوا ئې — جوړ ځکېروی دی له وسواسه
وږی تږی ، پروت بې حسه — پر د بر وا بې لباسه
هم پر حال د ساختو دی — د سپېرو خاورو له پاسه
بې د چا له دم او چو څخه — نور ئې څه نه سی له لاسه

دغریب پرغم اوخوږو ، بهبې خواره نورڅوك مله وی؟
چی درمل ته د رنځورو ، طبیبان پهخپله غله وی

یا خو پروت پر تخته باندی — دی نا ولی ورته مړی
نه ئې ګور او چناره سته — نې کفن ته یو تګړی
د یتیمو و ژړا ته — را تېر نه سو کوم وګړی
بې ښځمنو بل څوك نه سته — چی تر ګوره ئې وای وړی
لا هیڅوك نه وای په ښار کی — ښځو خپله وای ښخ کړی

نورڅه نه ښکاری له رازه ، بېله دې چی بې کسی ده
پېښه سوې ئې پر وصل ، و ابد ته پردېسی ده

له ختیځه او لوېدیځه — څخه لېوان راغله په منډه
څوك له مځکی څوك له هسکه — را شیوه سوه و ېکړه غونډه
خپلوان نه وه ټول پرهدی وه — تش په قوم کی یوه څنډه
د غریب میراث به څه ؤ — بېله دې چی بوزی کونډه
له کوچنیانو ئې کړی بېله — بیا ئې کښېنوی بر بنډه

دا مو ننګ داسر لوړی ده ، چی ئې بولو پښتونواله
که لهدې دوکه ونه مرې ، نور دردمند نه بې پالواله !

راغلی لیک

له کابل څخه

ګرانه کرزیه !

ملګرو ستا پیغام راورساوه ، ما هم ستا خواهش په ځای کړ . یو می غزل دراستولی چی د قدیم او کلاسیک ادب شیوه ، رنګ او بوی لری . بل شعر چی « آشنا نه » لیکل شوی په پښتو کی نوی شعر باله شی او دا ځکه چی هغه هم د لفظ په لحاظ او هم د شعری تعبیرانو په لحاظ ابتکار لری . مګر پدې لانه یم پوهېدلی چی دا راز اشعار به د لوستونکو تأیید لاس ته راوړی او که نه ؟!

دوه نوری می د خارجی لیکوالو ترانې انتخاب کړی دی . البته له یوې ژبی نه بلی ژبی ته د شعر ترجمه کول ډېر ګران کار دی . ګمان کوم ما به دا کار ښه نه وی سر ته رسولی مګر څنګه چی دا کار په پښتو کی نه دی شوی ما سخته ملا ور ته تړلې ده او که وخت بیا و مومم خیال لرم د دې ترانو د ترجمو یو بشپړ منظوم کتاب برابر کړم مګر دا کار به هم د لوستونکو په استقبال پوری ډېر ارتباط ولری .

هیله ده چی په راتلونکو وختو کی زه ستاسی سره د یوې دائمی همکاری وعده در کړم خو ته به هم دا وظیفه لری چی زما د بېلو بېلو لیکنو په باره کی د خپلو لوستونکو انتقادونه او نظریات ماته ولیکی او راوائی ستوی . د زیاتو همکاریو او مرستو په هیله « سلیمان لایق »

ساقی ته

ساقی لاس وره پیمانې ته چې ځنډېږی
د زمان قافله درومی نه درېږی

څو چې سترګی وازوو بهار به نه وی
ځوانی خوږ شانی یو خوب دی او تېرېږی

نه په عمر څه باور شته نه په حسن
خوبان خوشی خپل جمال نه غره کېږی

هغه لوښی چې کلال د زمان جوړ کړی
خامخا به د هغه په لاس متېږی

خام حریف د خم مدار نه منتظر دی
بد مستی د ناك په پاڼو کی نڅېږی

ساقی را کړه پیمانه پروا ئې مکړه
ښه پوهېږی چې څه کېږی هغه کېږی

د زاهد دانا کردې او جفا ګانی
تش په میو علاجېږی او هېرېږی

ژرمی مست کړه چې فضول عقل می وژنی
دا فضا مالره ننګه ننګه کېږی

آشنا ته

هېر کړه آشنا دا تېر عمرونه هېر کړه
باده در نیسه تېر غمونه هېر کړه
کاروان د عمر آشنا
کله درېږی کله صبر کوی
پیاله کړه پورته چې فرصت کم دی

* * *

بیا به ځوانی وی خو بهار به نه وی

یا به بهار وی د زړه یار به نه وی
زه لـه دې عمره آشنا

سخت اندېښمن یمه او وېره لرم
له دې ظالمه انتظار کم دی

* * *

مهلت د عمر یوه برېښنا ده برېښنا
یوه غمجنه شان خندا ده خندا

پدې خندا کی آشنا
یورپ لذت لری ګوره پام کوه
چی افسوسونه بیا ثمر نلری

* * *

که زاهدان په سجاده ښه ښکاری
رندان بېخوده په باده ښه ښکاری

یوه ګړی عقل آشنا
عذاب عذاب دی ګوره پام کوه
راځه راځه چی لېونی شو سره

* * *

راځه راځه چی یو جهان کړو پیدا
څو لېونی او څو مستان کړو پیدا

سا رانه لاړ شو آشنا
هېر کړو دا واړه بندیزونه هېر کړو
په بد مستۍ کی څو ناري ووهو

* * *

زړه می سا را پسې ژړاوی کوی
ځما نېر عمر ته ښېراوی کوی
راځه چی وزو آشنا

وبرېږم لاری د سا را بندی شی
جنون به ګرزی سرګردان را پسې

(ښاغلی رشاد)

(د مرگ پیغام)

مسته زر که وم روزلی د آزاد غره په لمن کی
نه می لومه وه لیدلی نه په فکر د دښمن کی

نا خبره له دورانه را ښکاره ئې لمسون نه وو
د راغو پر خاورو لغښتم ما لیدلی بېلتون نه وو

ما ویله تل به اوسم د همزولو په ټولۍ کی
خوشالی به می غوځیږی د آزاد زړه په ځالی کی

طمی را وستم دانې ته هوس اړه کړم په لومه
حریت می اسارت شو ژوند می شو د قفس شومه

بېله شومه له خپل سیله نه همزولی نه وطن شته
اوس نپېږمه قفس کی نه ها غر نه ها چمن شته

نه هغه خوږه اور شو سته نه خبره په ښادۍ یم
واک می روتیء له لاسه اوس د بل دلاس بندۍ یم

په تپش می وزر مات شی چی هوس د الوتو کړم
د خپل حق په جرم زندۍ شم چی تلاښ درا وتو کړم

د ارمې طمی له لاسه را په پېڅه دا خواری شوه
چی می طوق د خپلی غاړی دا زندۍ د زنده گی شوه

چی می ژوند د غره را یاد شی ژړا کو کی غلبلې کړم
زما ژړا د بل فرحت شی بېدردۍ ذرې ذرې کړم

مړه د مور په نس کی ښه وم د ذلت زهیره نه وای
یا د دام په تار ځفه وای خو په ژوند اسیره مه وای

داڅه ژوند د بېلتانه دی وزر تو به شوم قفس کی
زړه می وچاودی له گرومه د آزاد غره په هوس کی

بزما تېره شوه نیاز منو ! اوس به مرم په اسارت کی
د آزادو ژوندون ژوند دی مرگ ئې هم دی په عزت کی

«انتقاد ....»

د ۱۱ مخ پاتې

پر نوموړی باندی هغه انتقادونه چی د مخالفینو له خوا کېدل باعث سول چی دده اکتشافات ټوله نړۍ ته ښکاره کاندی که چیری سالارا پیری، د نورو امیرانو په څېر کومه چوکۍ اشغال کړی وای زما په عقیده او سنی جهانی شهرت ئې لاس ته نه ورتی، ددې څخه ښکاره شوه چی حاسدانو او انتقاد کوونکو دده عظمت او شهرت خپور او ثابت کی.

همدا ډول ګرانت جنرال چی د امریکا دازادی په وخت کی کوم فوق العاده بری وموند، د ټولو لوړو افسرانو حسد ئې ورته راوپاراوه، چی په نتیجه کی ئې نوموړی په بند محکوم او هلته ئې دیاس سره شپې سبا کولی، خو دده یوه بری دده نوم تاریخ ته وسپاره او پرده وارو وارو تنقید وده ته عظمت ور په برخه کی.

نو په اخر کی داسی ویلای شو څوک چی پر تاسو تنقید کوی یا تاسو ته د کومو ناوړو امورو نسبت کوی دخوا بدۍ سبب مو مه ګرزوی ولی هغه څوک چی پر تاسو تنقید کوی بېله دې چی ستاسو ستاینه په مخالفه لهجه سره کوی بل څه نه شو ورته ویلای.

اګوست کنت او...

د څلرم مخپاته

مرحله تیره کړه بېله دغی مرحلې څخه خورا مشکله ده چی سړی دې یو دم د تیولوجکل مرحلې څخه و صافی علمی مرحلې ته راشیوه سی. [البته دا خبری هم په خورا عمومی ډول سره بیا نیږی].

لوړی خبری چی د کنت په باره کی وسوی او یا د اجتماعیاتو د علم څخه مو خوله ووهله یوا ځی ددې د پاره چی کنت څه وائی او پخپله اجتماعیات څه شی دی؟ ددې خبرو د پوره معلومات د پاره ډېر لوی، لوی کتابونه او بیانونه سته چی که ئې وګورو ښه به په خبر سو.

د تاریخ پلار

چاته ویل کیږی

هیرودت چی د نړۍ د مشهورو مورخینو او سیاحینو څخه دی، د یو مشهور تاریخ د تالیف له کبله دی د تاریخ پلار و بلل شو او دده نوم په همدغه لقب ژوندی پاته شو.

هیرودت بابل، مصر او فلسطین ته مسافرت وکی او د تناسخ عقیده ئې له هغه ځایه راواخسته دده د تولد تاریخ د میلاد څخه بخوا د ۴۸۴ په حدودو کی ؤ او مرګ ئې په ۴۲۵ ق م کی وو.

مه غولېږیء په بادامو دا پستې نه دی فتنې دی
د آزاد غره وچی شګی په زر واره تردې ښې دی
دا وصیت می سبا یوسه د همجنسو و اورشو ته
د ژوندون بر ډاګ چی ګرځی باید ګوری خپلو پښو ته
چی تېر نه وزیء د زړه څو کو د دانو د پاسه دام دی
د صیاد په مهرو مینه غولیده د مرګ پیغام دی

د علم النفس پېژندنه

(تعریف)

د مؤلفینو عادت پردې باندې راغلی دی چې دوی د مخه تر دې چې د یو علم په باره کې دی خبرې شروع کړې غواړي چې وار دواره دی د هغه علم د ماهیت په خصوص کې یو عمومي مفکوره و لوستونکو ته وروسپاري او دا کار په دې ډول سره کوي چې تر هر څه لومړی نو د هغه علم په یو دقیق تعریف باندې اخته کیږي دا دی در ته څرګنده وي چې تعریف تر هغو پورې دقیق نه ګڼل کیږي څو چې جامع او مانع نه وي جامع دا معنی چې پر ټولو هغو موضوعاتو به دلالت کوي که څه هم اجمالي دلالت وي چې له دغه علمه سره اړیکې لري مانع دا معنی چې بل علم به نه په کښېوزي او نه به دغه تعریف باندې تطبیق کیږي که څه هم د اکثرو علومو د پاره د یوه دقیق تعریف پیدا کېده ډېر سخت کار دی مګر په زیاته بیا د «علم النفس» د پاره د یو جامع او مانع تعریف پیدا کېده ډېر ډېر مشکل او بلکل ډېر سخت دی او د تعریف له ناحیې څخه علم النفس تر نورو علومو پورې خوار دی، ځکه د دې علم علماؤ تر اوسه پورې یو داسې تعریف نه دی ټاکلی چې هغه دی د علم النفس پر مختلفو موضوعاتو او بېلو بېلو ناحیو باندې غېږ راوګرزوي او پر خپلو ټولو مسایلو دی داسې شمول واري چې نه دی خپل ځنې وتلی وي او نه دی پردې په کښېوتلی وي د دې کار د نه کېدلو ځینې علتونه دا دي:-

۱- د نړۍ مظاهر او د ژوندانه حوادث مختلفې ناحیې لري او اکثره وخت داسې کیږي چې یو مظهر د بېلو بېلو علومو موضوع وي او له مختلفو ناحیو څخه ئې تر څېړنې لاندې سي.

۲- دا خبره ده چې علم النفس له معنوي امورو څخه بحث کوي او هغه هم تر هغې اندازې پورې. لکه څو نه چې د دغو معنوي امورو آثار لیدل کیږي نو د دوی حقایق په پوره ډول سره نه سي پېژندل کېدای او نه دا ممکنه ده چې د دوی پر طبائعو او حدودو دی کامله احاطه وشي ځکه چې دا انساني تجربو له دائرې څخه لیري او پټ دي نو که دغسې خبرې د علم النفس په تعریف کې راوړه سي هرومرو به یو داسې تعریف ځینې جوړ شي چې مجهول به وي او مطلوب ټکي ته به سړي نشي رسولای.

۳- د علم النفس مباحث ډېر سره وغژېده او په زیاته بیا دغه پراخېده د جاري پېړۍ له سره څخه را شروع سوه او تر دې ځایه پورې راورسېده چې ټوله بشري اعمال په دې حیث وڅېړي چې په څه شي ئې مخ نیول کیږي او کوم سببونه دي چې و دې اعمالو ته سړي وادار کوي او د دوی پر علمي تعلیل باندې ئې د دوو اساسي غرضو د پاره ګوتې پورې کړي چې هغه دا دي:-

۱- چې په دغو اعمالو باندې د مخه تر واقع کېدو خبر تیاراسي او هغه شیان زده سي چې په کړو سره ئې ښائي دغه اعمال تقویه سي دا هغه وخت که ښه اعمال وي.

۲- یائې مخ و نیول سی کوم وخت که بد اعمال وی .

علم النفس غواړی چی د یو سړی عقلی حالات د خوب او د ویښتیا په دواړو وختو کی وڅیړی او د سړی نفسی وضعیت دده پخپل کور کی او د معلم دا په مکتب کی او د شاګرد دا په کور او ښوونځی کی او د کاسب دا په کسب خانه او د کاریګر دا په کارخانه کی تر بیان لاندی و نیسی همدا ډول د سیاست او دین، د قانون او تربیې په باره کی ږغیږی او د کښتو او لوړو اجتماعی ټولنو په خصوص کی خبری کوی او د مدنی مظاهرو او انسانی تقلیدو په شاؤ خوا کی څېړنی کوی لکه څنګه چی د عالی او دنی حیواناتو پر سلوک باندی بحث کوی لکه څنګه چی د کوچنی نفسیات څېړی همدا شان د بالغ پر نفسیاتو ږغیږی لکه څنګه چی د زیرکانو پر ززاکت او د عاقلانو پر عقلیاتو باندی خبری کوی همدا ډول د لیونانو او باوله کسانو او کوټه ذهنو انسانانو نفسیات تر څېړنی لاندی نیسی نو یو علم چی پراخېده ئې و دې حد ته رسېدلی وی او مباحث ئې د غونه غزېدلی وی ډېره سخته ده چی یو مختصر او جامع و مانع تعریف دی ورته پیدا سی، خو بیا هم په مختلفو زمانو کی فلاسفه ؤ د علم النفس له تعریفه څخه منعه نده راوړی .

۱- هغه څوک چی لومړی ئې د علم النفس په تعریف خوله پوری کړېده بلکه په دې علم کی ئې د خبرو دروازه خلاصه کړېده او یو خاص نوم ئې ورته ټاکلی دی هغه د یونان پخوانی فلاسفه دی پخوانی کسانو د «سیکولوجیا» یا «سیکولوجی» یعنی علم النفس نوم باندی ایښی دی او په دغه نامه ئې له تعریفه څخه استغناء راوستلی وه ځکه ول دغه قدر بس ده چی دا (علم النفس) دی مګر دوی د نفس ماهیت په یوه علمی طریقه سره موږ ته ندی بیان کړی او دوی له دې څخه عاجزه وه چی په یوه داسی ډول دی د نفس، روح او عقل په منځ کی فرق وښیی چی تجربوی علم دی ورسره ومنی، څرنګه چی دوی د علم النفس په تعریف کی د داسی قید او قیود له زیاتو به څخه خوله نیولی وه چی هغه دی نوموړی علم په خاص ډول سره وښیی او د دې علم مباحث دی د نفس او علم په ناحیو کی محصور کړی نو ځکه د دوی تعریف د نورو عقلی علومو لکه علم المنطق د کښېوتلو مخ نسوای ګرزولای .

دا خبره لا هم سته چی پخوانو دا ګمان کاوه چی حیوانات طبیعتاً له نفوسو او عقولو څخه خالی دی او په دې سبب ئې د علم النفس په مباحثو کی د یو عقلی حیوان د ژوند بحث نه دا خلاوه نو په دې باب کی د دوی معلومات لږوه او د علم له مخی څخه ئې کفایت نه درلودی .

۲- نوی کسان هم داسی ندی چی تر پخوانو دی په دې باره کی کمندری وی چی د دې علم و یوه رضائیت بخشه تعریف ته دی رسېدلی وی دویلو وړ خبره لا داده چی تر اوسه پوری د یو اصلاحی تعریف پر ټاکلو لا هم اتفاق ندی سره کړی بلکه پر څولارو باندی سره تللی دی ځینی ئې داسی تعریفوی چی دا

«علم العقل» دی او صرف دغه غوټه خبره کوی او نور څه قید او شرط نه ورسره زیاتوی او د دوی مراد له دې خبری څخه دا دی چی دا ښکاره کړی چی عقل او نفس سره یو شی دی.

مګر علم النفس دا نه خوښوی چی ځان دی د علم العقل په نامه یا دی مسمی کړی. ځکه له دې نامه څخه دا څرګندیږی چی دا سی یو خاص ډول سامان سته او یا یوه ګوښی آله سته چی هغه خارجی وجود لری او د عقل په نامه یادیږی لکه ځینو پخوانیو چی دا عقیده درلوده چی یو دا سی شی سته چی هغه ځانته وجود لری او د نفس په نامه یادیږی کوم وخت چی له بدنه ووزی نو بدن مری او ادراک و حیات ځنی زائلیږی مګر خبره داده چی علم النفس کورټ د نفس او عقل د وجود په باره کی څېړنی نه کوی ځکه نو موږ ی علم په دې سره اعتراف نلری چی نفس یا عقل د خارجی وجود څښتن دی په دا سی ډول ممکنه ده چی تجربې دی لاندی سی او د دوی له سلو که څخه دی هغه مهم قواعد او مبادی استنباط سی چی په علم النفس کی ئې د تدوین شکل اخیستی دی بلکه علم النفس د مغزو او عصبی جهاز په وجود باندی اعتراف کوی او د معنوی اعمالو په باره کی چی عقلی اعمال بلل کیږی او دوی د عصبی جهاز سره ښکاره علاقه لری نو علم النفس له مادی شیانو څخه بحث نه کوی بلکه هغه اعمال او آثار تر څېړنی لاندی نیسی چی عقلی اعمال او آثار دی بنا پر دې د علم النفس تعریف په دې ډول سره چی علم العقل دی مقبول تعریف نه ګڼل کیږی.

«پاته لری»

|| لیکونکی نومیالی ||

ډوډۍ

که سترګی پوټی کو او که ئې روڼی کو خو ژوند په حساب مو دا خبره ومخ نه جګه ولاړه ده چی ډوډۍ باید ولرو او ډوډۍ باید وخورو. نور حیاتی ضرورتونه ممکنه ده په څلیرویشتو ساعتو کی یو وار راسره مخامخ سی یا ښائی په هفته کی یو پلا ورسره مخامخ سو یا احتمال لری په کال کی یو وار راسره مخامخ سی یا امکان لری په ژوند کی یو پلا ورسره مخامخ سو لیکن ډوډۍ هغه ضرورت دی چی د شوا روز په لنډه کی زمانه کی دوه واره ارومرو ورسره مخامخ کیږو او که نه وی ضرورت خو نو په اکثرو ګړیو کی پر له پسې ورته موجود دی.

انسان که پخپل تاریخ کی څه ترقی کړی وی نو هغه له دې ځایه څخه ښه لیده کیږی چی یوازی د طبیعت په ډوډۍ ئې اکتفاء نده کړې بلکه د ډوډۍ د تولید د پاره ئې پخپل لاس په ډېرو منابعو ګوتی وهلی دی.

که څه هم ځینی پخوانی اشرافی فلاسفه وو خو پر ډوډۍ باندی د حیوانی ضرورت نوم ایښی وو او په دې سبب چی د دوی انسان اشرف المخلوقات ګاڼه نو په دې شرمېده چی د انسان پر

حیوانی ضرورت باندی وږغیږی، مګر مه ئې ګرموی د پخوا فلاسفه وه، د باچهانو په دربار کی ډوډۍ پر تیاره ور رسېده او دا د بل دلاس تیاری ډوډۍ داسی سترګی ور پوټی کړی وې چی یو خو ئې هغه انسان نه لیدی چی لوږی به ارزل المخلوقات ځنی جوړ کړی ؤ او بل داسی ور ته ایسېده لکه ډوډۍ چی ګرد سره د د ژوند موضوع نه وی نو ځکه دوی هر کله د اشرافی انسان د روحانی او ملکوتی صفاتو په خیال بندیو کی تفکر ته زور ور کړی ؤ او دې ته ئې چورت نه واهه چی د دوی ترمانیو رالاندی خلګ له لوږی کچول دی، لومړنی او آخیرنی موضوع ئې ډوډۍ ده. او نه هغه وزیر بو یه فلاسفه ؤ ته چا دویلای سوای چی دا انسان چی تاسی ئې هم ډېر عالی بولی هغه په دغه حیوان کی سپور دی چی مهم ضرورت ئې ډوډۍ ده.

د بشری ژوند په لیکلیکه کی د انسانانو ترمنځ د ډوډۍ مسئله خورا ډېر تاریخی حوادث لری، خو تر ګردو چی د سړی زیاته توجه کشوی هغه د ډوډۍ وېش دی. د ډوډۍ په وېش کی یوازی د خېټه ورو خلګو برخه زیاته ده او له دې څخه معلومیږی چی دا وېش نو همدوی کړیدی. د دې وېش له برکته نو هغه دی چی د چا ستړیاوی ترانده پاسه منګر ډوډۍ په نیم نس او د بل بیا نس ترانده پاسه منګر ستړیا هیڅ نو کی. د دې وېش برکت دی چی په یوه کور کی څوك وائی څه شی وخورم او څوك بیا وائی په چائې وخورم. د دې وېش برکت دی چی یو ئې ګټی او بل ئې ځنی څټی. د دې وېش برکت دی چی د بل له اوږې څخه خوړل داسی ایسی لکه د مور شیدې. د دې وېش نتیجه ده چی بادار د خپلو روپو د حساب په وخت کی له مزدوره څخه پوښتی چی شل ؤ شل څو کېږی او هغه بې اختیاره ور ته وائی دائی څلوېښت ډوډۍ. لنډې دا چی د دې وېش له مزایاؤ څخه ده چی د یوه زیان د بل تکیه ژوندونو نه ئې په وجود راوستلی دی. که ژوند د التفات شی وی نو دا خبره مو زیات پام ور اړوی چی پدې وېش کی د خورا لږو خلګو ګټه او د بېخی ډېرو خلګو تاوان دی. که انسان په رشتیا عاقل وی او کارونه ئې باید عقلی جنبه ولری نو نوری چاری به ئې یا معقولی وی یا نامعقولی خو د دې کونګه او د دې وېش مننګه ئې له دواړو خوا څخه یو غټ نامعقولیت ګڼل کېږی. د ډوډۍ پیدا کېده په طبیعت کی آسانه دی ځکه څو نه چی کری هغونه رېبلای سی. دا نړۍ بېخی لوده او خواری کښې خلګ هم له خواری څخه نه تښتی نو که یو پلا د دوی غښتلی لاسونه و آزادی خواری ته ور ایله سی دا نړۍ به په لږ وخت کی ګل ؤ ګلزار کړی. اما د دې نامعقول او چټی وېش په شکنجه کی خبره و دې ځای ته را رسېدلې ده چی د خپل لاس حاصل یو نس ډوډۍ د یو عالم مشکلاتو او ستومانیو په پیچوتاب کی په خورا غیر اطمینانی ډول سره تر زر منته او سنته لاندی د نورو د احتیاج او مهربانۍ په فضاء کی د خوف او رجاء په دنیا کی د بل د ور کولو او را ګرزولو د اختیار

دایتالیې یو وفادار او بدبخته عاشق

په درې کاله بند محکوم شو

په دې سبب چې له هغې ښځې څخه ئې بوه مچه وتروښوولې چې دی د ۲۶ کالو راهیسې برمین وو نو د «کریمونا» محکمې درې کاله بند پر راوایستې. دې بدبخته سړی وویل: «اقلاً دا بوه واقعي مچاوه، ځکه دمچې په وخت کې دې پرباس شو نه باندې په غاښ کړم» دا محکوم سړی د پنځوسو کلرزوردی او په ښه ښه بشاش او ځوان سړی ښکاره کېږی. دا ښځه چې دده د تولو تکلیفونو موجب ګرزېدلې ده د ۴۳ کالو ده، چاغه او بشاشه ده. دری وار دواره دده یو دروند پرغاړه سزه ولیدل چې دواره هلته لمبېدله. هغه وخت دا د ۱۶ کالو وه او دی ۲۵ کلن وو.

دائې د محبت ابتداء وه اما یوازې دده له خواشخه. له دغه وخته څخه ده خپلې مینې نه دواړو کاوه او خپل محبت ئې هغې نه په اظهار رساوه اما هغې په ده کې چورت نه واهه. په آخر کې ئې نر ۲۶ کاله یکطرفه محبت وروسته پر خپلو بازوګانو جرئت وکړ او په دېره نرمۍ سزه ئې دا پرخوله باندې مچ کړه خودې په غاښ کې «یو ویلائې دمخه په ګیلاس وویشتې او پر تندې ئې زخمې کړې» او وروسته ئې د صلاحیتدار مقام ته وړلې وو. د فقرې نتیجه داسې سوه: دوه کاله درې میاشتې د شهوت د طغیان په ګناه، او د میاشتې په دې ګناه چې ښځې نه ئې دېره زمانه تکلیف ورکړی دی او نور نو د محکمې د مصارفو په نسبت محکوم سو. خو دې وفادار او بدبخته مین اوس د دې فتوی په مقابل کې مرافعه غوښتې ده.

له ایتالوی بولتین څخه

په هوا کې، په ایو دوپ، د نس په خوږو، په مټې که ولاس ته راوستل سی نو لوی موفقیت او عالیشانه کامیابۍ بلل کېږی.

که یو څو محدود غټ خیل، اشراف، مخور، خانان، رئیسان دنیاداران، ملکان، پیران، سوداګران له حسابه وباسو او باموګاهی وخت د دوی د دودیانو مسابقې به غفلت کې وانه چوی نور نو د بشریت پاته اولسونه هر کله په دې غوښتنه کې سره هم آوازه دی چې دودی! دودی! دودی! !.

رشتیا هم د دنیا له سره څخه تراوسه پورې دودی یو با اهمیته مسئله ده او په انسانی نړۍ کې ئې هغه مبرم ضرورت وبولی چې انسان له موره څخه بیا تر ګوره پورې تر تولو شیانو دمخه ورسره مخامخ دی او چې دا کار ونسی نور کارونه خو کېدای نسی او که وسی نو بالکل بې وخته او بالکل بې ځایه دی نو ای خواری کښو انسانانو، عالمانو، سیاست-مدارانو او شاعرانو که غم خوری د دودی غم وخوری او په دې باب کې دیو معقول اساس فکر ومنی پخپل ځان کې او عملی ئې کړی په ځان کې!



نومیالی پوهان

د ښاغلی «م،ع» لیکنه

شکسپیر

په اروپا کی پنځلسمه او شپاړسمه پېړۍ چی طلائی دوره یا دیږی ځکه په دغه وخت کی د اروپا په ټولو اجتماعی او علمی موسساتو کی یو نوی روح په حرکت کښېږزی او له دې سره سم پخوانی عادات او معتقدات چی د عصری تحول مخه ئې نیوله یو دم له منځه ځی او خپل ځای د علم او هنر و نوی جریان ته پرېږدی .

په دغه وخت کی د ادبیاتو په برخه کی چی کوم لوی تحول راغلی نو هغه په خاص ډول په انګلستان پوری ربط پیدا کوی او په انګلستان کی چی دې نهضت ته کوم چا ډېره ښکلا ورکړېده نو هغه یو اځی د انګلیسی ادبیاتو پلار شکسپیر دی .

شکسپیر پداسی وخت کی میدان ته راغی چی د منځنیو پېړیو توری پردې لا خپرې وې ده چی کله لیکنو ته لاس واچاوه نو د خپل ماحول او محیط له تاثیر څخه ئې و نه کړای شوای چی ځان وباسی، نو لومړنی اثار ئې ځینی هغه «تراچیدی» ډرامې دی چی د پخوانیو مذهبی لېډرانو قربانی ښیی، خو کله چی د لومړی الیزابتی په خاصه توجه د بریتانیې علمی ټولنی مخ پر انکشاف روانی شوې، نو شکسپیر ته هم زمینه مساعده شوه چی په نوی ابتکاراتو لاس پوری کړی هغه وخت چی دی د لومړی الیزابتی په دربار کی د یو نومیالی پوهاند او زبردسته شاعر په حیث معرفی شو، نو د هغی نوازش دی ودې ته وګمارۍ چی باید خپل کمال په تام استعداد ثابت کړی .

شکسپیر د ډرامو لیکنی ته لاس واچاوه او هغه شېوه چی په دې فن کی تر ده د مخه نورو لیکوالو اخیستی وه له هغې څخه ئې مخ راوګرزاوه او په دې مقصد چی باید د انګلیس د ملت روحیه وروزی نو د زړو داستانو او تاریخی قصو څخه ئې ځینی ډرامونه جوړ کړه مخصوصاً کله چی د ټولو اکمنی په مخ کی د هغو تمثیل وشو، نو هغی اعتراف وکړ چی اوس د انګلستان امپراطوری کولای سی چی پر نړۍ وزرونه خپاره کړی . شکسپیر که څه هم تر ډېره ځایه په خپله لیکنه کی نوری لاری اخیستی دی خو په وروستۀ کی ودې حقیقت ته

رسېدلی دی چی ښه لیکنه هغه ده چی له واقعیت څخه د باندی نه وی .

د شکسپیر د مشهورو ډرامو څخه د «جولوس سیزار کاریلاس- انتونی او کلوپاتر» د ډرامو قصې د پلوتارخ له تاریخ څخه اخیستل سوی .

د «رومیو او جولیت» ډرام ئې د یو ایټالیائی لیکوال «پاند- للو» له داستان څخه اقتباس کړیدی .

د شکسپیر په ډرامو کی هغه وخت د هملټ ډرام ډېر معروف ؤ او تر ډېره وخته پوری به د نړۍ په هر ګوټ او برخه کی تمثیلدی خو دده د «کینګ لیر» ډرام تر اوسه چی تر درې پېړۍ لا هم ډېر وخت پر تېر سوی زوړوالی ئې ندی قبول کړی .

د کینګ لیر ټوله برخی پداسی صورت جوړی سوی چی ښائی د زرګونو کلو څخه وروسته دی هم انسانانو ته بېګانه ونه ایسی نن سره لدې چی د بشری جوامعو نو یو تحولاتو نوی خبری منځ ته راوړی دی او د انسانانو اخلاق، عادات، ارزوګانی او مقاصد تغیر کړیدی خو د شکسپیر هغه شهکار چی پدې ډرام کی عملی سوی داسی معلومیږی لکه شکسپیر چی نن زموږ په ټولنه کی راسره یوځای دی او زموږ د ذوق پر اساس ئې ډرام را ته جوړ کړیدی دا ځکه چی شکسپیر د کینګ لیر په ډرام کی د انسانانو پر طبیعت د واقعیت له مخی ږغیږی او د جوامعو د ټولو جریاناتو اساسی علل پداسی صورت بیانوی چی یوه منظره ئې هم له خپل اصل واقعیت څخه نه د باندی کېږی شکسپیر چی څومره معروف شخصیت دی ژوند ئې هم په ډېر خوشحالۍ او ابرومندۍ نېر سویدی دی د ۱۶۱۶ کال دمی په میاشت کی مړ سویدی .

د شکسپیر یو وړو کی اثر .

«د مرګ نغمه»

کله چی زه مړسم، د مخه تر هغه وخت چی د ناقوس شوم او تریخ آواز زما پر سر وږغیږی او نړۍ والو ته دا پیغام ور کړی چی یو موجود دا غمجنه نړۍ پرېښوده .

هغه وخت چی زما بدن د تورو خاورو په زړه کی د ګور له چنجیو سره محشور شی نو تاسی زما پر مرګ مه ژاړۍ حتی هغه وخت چی تاسی زما دا اشعار لولیء د هغو لاسو یادونه مه کوی ء چی دا اشعار ئې لیکلی دی ..

ولی زه تاسی دومره دوست لرم چی تاسی ما هېر کی ... ولی چی ستاسی ښکلې زړونه زما له یاده څخه خواشینی نه سی .

په هغه وخت کی چی زه د مځکی په غېږ کی خاوری سوی یم او ستاسی سترګی زما پر دې اشعارو ومښلی زما نوم مه یادوی ء .... پرېږدې چی ستاسی هغه محبت چی زما سره ئې لری ء زما د ژوند سره یوځای وپای ته ورسیږی چی نړۍ ستاسی له شکوې څخه خبره نشی او پسله زما له مرګه زما نوم ستاسی سره مسخره نکړی .

▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼

ښاغلی عبدالعزیز [فقیری]

پښتو او پښتون

پښتو د یوه ملت د ژبې نوم دی چې دغه ملت ته نو د همدغه پښتو او پښتونوالی په علت پښتون وایه سی. پښتو د ژبو د تاریخ او فلالوژۍ له مخې د ډېرو ژبو سره په قدامت کې قدیمه، او په منبع کې اشتراک لري، چې د دې خبرې مصداق زموږ د پوهانو او مشرانو آثار او لیکنې دی.

پښتو نه یوازې یوې ژبې ته بلکه د یوه ملت او آزاد قام وځینو اخلاقو، مکرم او مقدس صفاتو ته هم وائی. پښتانه غیرت پر عهد، وفا، رشتیا ویل او د ننګ او ناموس ساتنه پښتو بولی.

د پښتو تاریخ، ادب، عنعنات او نور ممیزات چې د یوه آزاد ملت شرایط او لوازم بلل کېږی ډېر د غور وړ، او مطالعه ئې ضروری حسابل کېږی، دوی د ډېرو ظالمانو او خپلو لویو دښمنانو سره مخامخ شویدی. د جنګېږ، او رنګ زېب او نورو غوندی بې انصافه خلکو سره په بلا اخته شویدی، مګر دوی هیڅکله تر خپلې پښتو او پښتونوالی ندی ور تېر شوی او د دښمن په خپلوۍ او فریب ئې ځان ندی غولولی. دوی آزاد ملت بلل کېدة او مشرانو

بې ویل:-

د پښتون په ننګ می وتړ له توره
ننګیالی د زمانې خوشال خټک یم

پښتون ملت داسې سیاسی او جغرافیائی موقعیت لري چې که د دې ملت پر ځای بل کم قام او ملت پروت وای اوس به ئې چا نه تاریخ او نه به ئې بل کم خصوصیت لیدلی وای. دې ملت هیڅکله دښمن دې ته پرې ایښی ندی چې د دوی پر مقدساتو او ملی ممیزانو باندی تېری وکړی. دوی پښتانه وه او ځان ئې په پښتنی غیرت او مېړانی ساتی. او دا چې پښتون ملت نن ورځ د اوسنی علومو او فنونو څخه په ډېره اندازه برخه نلری ځان ته یو مخصوص علت او سبب لري.

هغه وخت چې د استعمار لاسونه د شرق پر لوړ را اوږده سوه او لویه برخه ئې د استعمار یونو په لاس ورغله، نو طبیعی ده چې استعمار والاؤ کوښښ کاوه چې خپلې مستعمرې او حتی د هغو ګاونډی ملل په غفلت او ناپوهی کې وساتی، چې له همدې سببه نن ورځ په ټول شرق کې د استعمار پر مخالفت او ملی آزاد بیرغونه ورپېدل، او اکثره ملتونه د خپل سیاسی، اقتصادی او نورو آزادیو مجاهدې کوی نو دغه دی، چې پښتون ملت هم د خپلو ګاونډیو ممالکو سره پدې لار کې مرسته کوی او غواړی چې خپل عملی او فنی نواقص اصلاح، د خپلې ژبې تاریخ او ملی ممیزاتو په روښانه کېدو کې زیار وباسی.

د پښتو او پښتونوالی خدمت څرنګه چې بعضی خلک تصور کوی کمه رسمی او تشریفاتی جنبه نه لري، بلکه د پښتو او پښتونوالی دپاره خدمت د هر

پښتون وجدانی او ملی وظیفه ده او هر پښتون چی نن هر کار کوی په هغه کی یوه پښتنی او ملی غایه لری . پښتانه ځلمی په ښوونځیو او پوهنځیو کی لیك اولوست کوی، پښتانه عسکر د پښتانه غیرت او ناموس د ساتنی د پاره عسکری شریفه وظیفه پرځای کوی، تجار دفن او کسب خاوندان ټول د همدې مشترکی غائې د پاره کار کوی پښتانه دا عقیده لری چی خدای دی نه کوی که پښتو او پښتون-والی ته کم زیان ور ورسیږی هغه دوی ته زیان او د دوی د محوه کېدو د پاره علت او سبب باله شی نو پښتانه کوښښ کوی چی پښتو او پښتونواله مخته ولاړه شی .

فقط یو شی چی نن ورځ پښتانه هغه ته ډېر اړ او محتاج دی هغه د پښتو عملی کېده او د هغی په مرسته پښتانه پوهول دی، موږ ټول پښتانه نه مجبورو چی انګلیسی، فرانسوی او یا د نیا نوری علمی ژبی دی نه زده کوی بلکه پښتانه ځلمی مجبور دی

« پاته په ۳٤ مخ کی »



د سپوږمۍ په باره کی

ځینی تحقیقات

د شوروی اتحاد کوزمیك توغندی چی د لومړی ځل لپاره د سپوږمۍ کرې ته ورسېدا او د نړۍ ډېرو علمی دستګاؤ د هغه رسېدل تصدیق کړه، او پدې پسې امریکائی پوهانو هم څو توغندی هغې خوا ته وویشتل چی ځینی ئې راولوېدل او د ځینو څخه ئې د فضا په تحقیقاتو کی پوره کار واخستل شو .

په تېر کال کی بیا د شوروی-اتحاد او امریکا د فضائی تحقیقاتو اداري کوښښ وکی چی ښه ترا د خپلو معلوماتو لمن بسې پراخه کړی او یو شمېر راکټونه د فضا په لوړه برخه کی پدې مقصد الوزول سوی او د هغو ځایو له څرنګه والی څخه ئې مځکی ته اطلاع راکول .

په تېر وکلو کی د سپوږمۍ د کرې په باره کی د بشریت لوی موفقیت داؤ چی د هغې کرې د چپه مخ څخه عکسونه د راکټو په ذریعه مځکی ته رامخابره شوه او هغه فرضیې چی د سپوږمۍ په باره کی د علماؤ له خوا ایښوول شوی وی تقریباً تثبیت شوی د دې نوی تحقیقاتو څخه نوښه معلومه شوه چی د سپوږمۍ کره له مځکی څخه په ۲۳۸ زره میله لیری فاصله کی واقع ده، چی د اعادی جټ الونکی په وسیله ٤ کاله په کار دی چی هلته ورسېږو. که فرضاً د سپوږمۍ کره زموږ پر سر په ۱۰۰۰ میله مسافه کی واقع

وای نو هغې کړې به د آسمان نیم مخ زموږ څخه پټ کړی وای، په سپوږمۍ کی یوه سلسله غرونه واقع دی چی اکثر ئې د ځنځیر په ډول سره پېچل شوی او تر ۱۲۰ میلو پوری ئې یو محیط خپل په غېږ کی نیولی دی. د دې غرو تر ټولو لوړالی ۶۰۰۰ فوټو ته رسیږی. په سپوږمۍ کی او به او هوا نسته نو ځکه یو سکوت حکمفرما دی او هیڅ ږغ نه اورېدل کېږی، د ماښام له خوا د سپوږمۍ په کره کی د اسمان منظره ډېره شاعرانه وی ټوله ستوری ډېر روڼ او شخ ولاړ وی د مځکی کره په ډېر غټ والی لکه د سپینو زرو یو ګیند ځلیږی.

په سپوږمۍ کی ځکه چی هوا نسته نو د جاذبی قوه هم تغیر ده او هغه دروندوالی چی په مځکه کی ۸۰ پونډ وی د سپوږمۍ په کره کی به ۱۵ پونډو ته ورسیږی او د همدغی هوا د نه موجود په نسبت کله چی ورځ سی د لمر حرارت دومره زیات وی چی د مځکی د استوائی مناطقو ګرمی هم تر لږ ده او بیا چی کله شپه سی هوا یو دم دومره یخه سی چی د قطب یخی هم پرتو دوی.

د سپوږمۍ پر کره اتمسفیر نسته نو ځکه اسمانی شهابونه چی هر ماښام ئې موږ په اسمان کی وینو د سپوږمۍ په کره کی په مستقیم ډول مښلی او یو په بل پسې د اسمانی اورنی ډېرو باران پکښی اوری.

د سپوږمۍ اکثر غرونه اورپاشونکی دی، او یو خطرناکه منظره ئې تشکیل کړی وی دا هغه تحقیقات دی چی تر اوسه د سپوږمۍ د کرې په باره کی په نوی وسایلو د بشر په لاس کښېوتلی دی او ښائی چی په راتلونکی وخت کی به نوی تحقیقات په دې لار کی نور لا هم روښانه کړی.

د غروال لیکنه او ترجمه

پښتو او ...

« د ۳۳م مخ پاته »

چی ننی علوم او فنون په خپله خوږه او مستعده ژبه راواړوی او راتلونکی نسل د نورو ژبو له احتیاج څخه خلاص کړی.

دا چی څوک پر خپله ژبه، تاریخ او ملی جذباتو څه لیکی او د هغو د تحقیق په لاره کی زحمت کاږی دا د احساساتو غلیان او تعصب ندی بلکه د داسی خلکو ټول زحمات د تحسین او تمجید وړ دی او باید هر کله د دوی سره موافقه حاصله سی.

پښتانه دی ودې ته متوجه وی چی خدای دی نه کوی که د پښتانه څخه پښتو او پښتونواله ولاړه، نو به بېله غلامی او مریتو به بل هیڅ صفت ورپاته نسی او نه به ئې څوک نوم په نومو کی اخلی، نو پښتو پښتون او پښتونواله د پښتنو د ژوند او مرګ مسئله ده.

له مینزوی فرام کیف ټوسکای سکریپر څخه
مترجم عبدالله [لالی] د ادبیاتو محصل

د کلتور آغاز

ارغونیو یونانیانو سوچ واهه چی تاریخ دورانی دی او تکرار یږی. لکه یوه نقطه چی پر یو څرخ باندی واقع وی او په هر دور کی خپل لومړنی حالت ته راځی، همدارنګه یوه پېښه چی یو وار پېښه شوی وی بیا، بیا په هماغه پخوانی شکل پېښېدونکی ده. لېکن وروسته فیلسوفانو زیارو کیښ او ثابته ئې کړه چی تاریخ ارتقائی شکل لری. که څه هم پېښی داسی ښکاری چی ځان تکراروی، خو تل مخ وړاندی خواته تمایل او تګ شته، یعنی هر څومره چی انسان پوهه حاصله کړی هغومره ئې پر خپل محیط لاس بر کېږی او تر خپل کنترول لاندی ئې راولی.

انتروپولوجستان (انسان-پېژندونکی) هم عقیده لری چی د بشر د ژوندانه په سیر کی پر مختګ ؤ او شته. اتار او نښی ښیی چی بشر په ناڅاپه جنبشونو کی وړاندی تللی دی ستړی شویدی او کښېنستلی دی چی خپله ساه ونیسی او د مخه تردې چی بل ګام واخلی، د هغو تحولاتو سره چی د نوی موفقیتونو په اثر منځ ته راغلی دی توافق وکړی.

کله چی به کوم نوی عصر په کلتور ګډ شو، فرضاً یوه نوې مفکوره یوه نوی اختراع او یاد کار د کړونوی لاری د منځته راغلی نو وګړی مجبور وو چی د دې لپاره چی د نوو متودونو سره توافق وکړای شی د خپل ژوندانه ځینی زړې لاری بدلی او واړوی. همدارنګه دې نوو عناصرو به یو لړ نوی امکانات د راتلونکی پر مختګ لپاره پرانیستل. رشتیا هم که نوی عنصر ډېر مهم وی او دو ګړو پر ژوند ژوره اغیزه وکړی، د ژوند زاړه ډولونه او لاری ژر اوړی او د بدلون ټول انواع په یوه لنډه موده کی صورت نیسی. وروسته چی د کلتور مختلفو برخو یو له بله توافق وکړ ژوند له تشویشی حاله څخه کرار یږی او د یو څه مودې لپاره په یو لږ څه بدلون مخ ته ځی.

انتروپولوجستانو دا ناڅاپه مخ وړاندی جنبشونه (کلتوری تحولات) بللی دی.

ښائی ډېر شیان بېله دې چی د خلګو پر ورځنی ژوند اغیزه وکړی او یو څه بدلون پکښی پېښ کړی منځ ته راشی لکه یوه نوی لوبه او یا یو نوی نظم په شاعری کی، په ډېر لږ بدلون او اغیزه د کلتور برخه ګرځی. اما ډېر مهم شیان هغه دی چی د وګړو د ژوندانه پر ډول او د هغوی د اړتیاؤ په لیری کولو کی مستقیمه اغیزه ولری.

د انسان په ټول تاریخ کی درې اساسی تحولات پېښ شوی او هر یو ئې د مابقی کلتور په ترمیم سره تعقیب شویدی. لومړی اساسی تحول هغه وخت منځ ته راغی چی زموږ ډېر لیری نیکونو زده کړه چی افزار او اور څرنګه

استعمال کړی چی پدې وسیله
سره ئې برخپل محیط یو څه لاس
برشو او ترخپل کنترول لاندی
ئې راووست داداسی موفقیت ؤ
چی بېله انسانه بل هیڅ ژوندی
موجود دولاس ته نه ؤ راوستلی .
درهم اساسی تحول هغه وخت
پېښ شو چی وګړو زده کړه چی
ددې پرځای چی لالهانده په
خودرویه نباتاتو اومیوو پسې
وګرځی پخپله حبوبات او نباتات
وکری ، او یا سرګردانه په
ښکار پسې وګرځی ، پخپله ژوی
او څاروی اهلی او کورنی کړی .
د کرهنی په منځ ته راتلو سره
ډېر تحولات او پرمختګونه
پېښ شول خو د نړۍ په ډېرو
برخو کی د مځکو کرهنه او د
څارویو نسل ګیری په ډېر لږ
بدلون پرمخ تله چی دریم اساسی
تحول پېښ شو ، دا بدلون ددې
کشف په اثر چی څرنګه قوه له
حرارت نه په لاس راوړه شی او
څرنګه مسایل په علمی ډول
حل کړه شی ، منځ ته راغی .
دافزارو او اور استعمال دومره
لرغونی دی چی موږ ئې د منځ ته
راتلو په باره کی په یقینی ډول
ښکاره او واضح معلومات نه لرو

لېکن دومره ویلای شو چی دا
دواړه دانسان دلاس شیان دی .
بېله انسان نه بل هیڅ ژوی د
اور استعمال ندی زده کړی .
په حقیقت کی تول ژوی ماسیوا
له هغوی نه کوم چی کورنی دی
له اوره ډېر بېریږی او څو چی ئې
وس کېږی ځان لیری ځنی
ساتی . بېله انسانه بل هیڅ ژوی
کوم افزار ندی جوړ کړی ، ښائی
لوئی بیزوګانی یو لرګی او یا
یوه ډبره چی پرمځکه ورته نژدې
پرته وی راپورته کړی او دیوې
آلې په ډول ئې استعمال کړی
اما دانده بېښه شوې چی د بلی
پلا د استعمال لپاره ئې وساتی او
کله چی ورته احتیاج ولری
جوړه ئې کړی . یوا ځی انسان
کولای شی چی دور اندېشه وی
او د آیندې لپاره پلان جوړ کړی
او کارو کړی .
دانسان نیکونو د مخه تر دې چی
اور بلول زده کړی ، دائې زده
کړی ؤ چی اور څرنګه استعمال
کړی او بل ئې وساتی . دوی
لومړی وار اور له یوې ونی څخه
چی تکه پر لوېدلی ، او لګېدلی
وه او یا ئې د ځنګله له ونو څخه
چی د باد او طوفان په واسطه

سره موښل شوی وی او خود
بخوده ئې اور اخیستی ؤ په لاس
راوست . دوې دا اور بل وساته
او حتی کله چی به له یوه ځایه
څخه و بل ځای ته کډه کېدل یو
لګېدلی لرګی او یا نیمسوز
به ئې له ځانه سره وړ . که به ئې
چیری اور مړ شو د ګاونډیانو
څخه به ئې پوراوه داور پورول
تراوسه پوری په کلیوالو او
کښتګرو وګړو کی یو عام او
معمولی شی دی .
لومړی سړی کوم چی دائې کشف
کړه چی هغه حرارت چی د دوو
شیانو له موښلونه حاصلیږی
کولای شی چی نازک شیان
وسوځی او ولګوی ، په رشتیا
سره یو نابغه ؤ او د نړۍ و
پرمختګ او ترقی ته ئې ډېر
خدمت کړیدی .
لرغونیو انسانانو پخپل لاس
جوړ کړی اور ئې د بکړۍ
(سنګ چقماق) او فولاد له
وهلو او ضربت نه په لاس راووست
اور دانسان په پرمختګ او لوړ
خاته کی ډېر غټ رول لوبولی
دی . انسان د اور په مرسته
و کولای سوای چی خپل ځان او
ځای تودوساتی . اور انسان ته

توان او قدرت ور کړ چې و
سړو ځایونو او اقلیمونو ته ولاړ
شي او سفرو کړي. داور ځلاند
لمبه په شپه کې درنده ګان د
انسان له مینې او هستوګنې
ځای څخه لیري او ګوښه وساتل
ځکه چې درنده ګان له اور نه
ډېر بېرېږي او ځان لیري ځنې
ساتي. انسان وکولای سوای
چې داور په مرسته لرګي وسوځي
او په مطلوب شکل سره ئې
واړوي. تر نن ورځې پورې
ځینې قبایل چې فلزي افزار او
لوښي نلري داور سیځلو په طریقه
کښتۍ، دلرګیو کاسې او لوښي
او نور شیان جوړوي.

تردې ټولو نه مهمه داده چې
اور دانسان دخوراکي ذخیره
او تهیه بېخي ډېره کړه. که څه
هم اور و عوښو خوړونکو
ښکاریانو ته کوم مهم او ضروري
شي ندي ځکه چې هر ډول غوښې
اومې خوړلی کېدای شي، او د
غوښو پخلنګ تر ډېره حده د
ذایقې مسئله ده او اوس هم ډېر
وګړي شته چې غوښې اومې
خوري. لېکن اومې غوښې ژر
ورستیږي او خرابیږي حال
داچې اور وهلې او وچې غوښې
کېدای شي چې د هغو ورځو
لپاره کوم چې ښکاریان خالي
لاس له ښکار نه کورته راشي
وساتلی شي او استعمال ئې کړي.
همدارنګه د ترکاریو او سبزي-
جاتو په باب کې هم، پخلي یو
لوی بدلون راوست. اګر چې
ځینې خودرویه مېوې او ترکا-
رۍ اومې خوړلې کېدای شي
لېکن اکثره حبوبات او بېخ-
لرونکي ترکارۍ که چیرې
اومه وخوړل شي بد هضمي
پېښوي او سړي ناروغه کوي.
نو کوم وخت چې انسان دا کشف
کړه چې که چیرې دا اومه خواړه
پر اور پاخه شي، پاسته او
خوندور کېږي، په پراخه
پیمانه ئې دخپلې خوراکي و
پروګرام او ذخیرې ته پراختیا
ور کړه.

ډوډۍ چې دانسان د ژوند له
پاره ډېر مهمه او ضروري ماده
ده بېله اوره په لاس نشي راتللای.
دا یو علمي حقیقت دی چې د
نفوس ډېر ښت دخوراکي موادو
په ذخیره او تدارکاتو پورې
مربوط او تړلی دی. یوه کورنۍ
تش دومره کوچنیان روزلای
شي چې خوراکه ور کولای شي.
کوم وخت چې خوراکه لږ پېږي
غریبان او بېوزلي وګړي د
خوراکي دنه درلودلو له کبله
اکثره هلاک کېږي او مري.
هغه وخت چې انسان په خودرویه
مېوو او ترکاریو او یا په ښکار
سره چلاو او ګذاره کوله، یوه
لویه کورنۍ ئې نشوه روزلای
لېکن کوم وخت چې ئې د
خوراکي موادو ګدامونه او
ذخیرې و درلودلې نو ئې ډېر
کوچنیان وروزلای شوای چې
ورو ورو د انسانانو کورنۍ
د مځکې پرمخ خپرې او ډېر
وطنونه په ډک شول. افزارونه
نه یواځې انسان ته قدرت
ور کړ چې د خوراکي موادو
ذخیره د بېخ لرونکو ترکاریو
د شکولو او یا د ژوو د ښکار
کولو له لارې ډېره کړي بلکه
له درنده ګانو او داړونکو ژوو
څخه ئې هم وساته او د آسودګۍ
او آرامۍ ښه زمینه ئې ور برابره
کړه. دافزارونو استعمال هم
د اور د استعمال په شان ډېر
لرغوني دی او حتی ډېر ابتدائي
انسانان هم پدې پوهېدل چې یو
پنډ سړي لرګي د کوتک په
شان او یا یو اوږد تېره څوکي

لرګی د نیزې په شان استعمال کړی او یوه تېره څنډه ډبره د شیانو د پرېکولو او غوڅولو لپاره په کار یوسی .

کله چی به ابتدائی انسان وغوښته چی له ډبری څخه تبر جوړ کړی نو به ئې د ګرانیت یوه کلکه ډبره راواخیسته او د بلې ډبری سره به ئې وهله چی په هره ضربه کی به ئې یوه وړه توته ځنی بېلوله تر څو چی به ئې ډبره و مطلوب شکل ته راوستله دې ډول آلې ډېر مهارت نه غوښت لېکن کله چی به وغوښته چی یو ښه ښوی او صیقلی تبر جوړ کړی نو به ئې د بلی ډبری سره سولاوه او په نتیجه کی به ئې ښکلی تبر په لاس راوست .

څرنګه چی لرغونی انسانان تل په کوچ او حرکت کی ؤ نو ئې دا مناسبه نه ګڼله چی یو نیمګړی او ناجوړ شوی توری (افزار) له ځانه سره نقل کړی . ځکه نو دې ډول سنګ کاری تر هغو پوری چی انسانانو دغلو او حبوباتو کرل زده نکړ عامه نشوله . لېکن کوم وخت چی دوی ځائی شول و ئې کولای سوای چی خپل نیمګړی توری او افزار کوم وخت چی فرصت ولری او یا ئې زړه وی راواخلی او کار پر و کړی تر څو چی مکمل او روغ شی .

د سنګ کاری بل تکنیک چی ابتدائی وګړو به د نیزو او چاقوګانو په جوړولو کی په کارو وړ داؤ چی د نیزې د څوکی د جوړولو لپاره به ئې یوه اوږده نری او تېره ډبره راواخیستله او هغه به ئې ښه ښویه او ښه تېره کړه او د هډو کی او یا د لرګی په سر کی به ئې ور کړه اوس هم موږ یو مخ د یوه لرګی په سر کی تک وهلای شو او پدغه ډول ئې استعمالولای شو . دا تکنیک تقریباً شل زره کاله د مخه تر هغه چی انسان د حبوباتو او غلو کرل زده کړی اختراع شوی ؤ . سره له دې چی انسانان د اور په استعمال او د ساده آلاتو په جوړولو پوهېدل، خو ډېر لږ عمر ئې درلود . لرغونی انسان کومه دارائی او د خوراکی موادو ذخیره نه درلوده چی د ځانه سره ئې حمل کړی . ده به خودرویه مېوې تر کاری او نباتات تولول بېله دې چی د هغوی د کرلو په فکر کی شی . ده به وحشی حیوانات چی لکه ده غوندی آزاد ؤ ښکار کول بېله دې چی د هغوی د کورنی او اهلی کولو په فکر کی شی او د خپلی کورنۍ غړی ئې وګرځوی دا ځکه چی دی خلاصه پښه ؤ او تل به په نوو ځایونو او وطنونو پسې چی هلته به ښکار او خودرویه مېوې او نباتات ډېر موندل کېدل په هڅه او پلټنه کی ؤ .

که څه هم د طبیعت متداوم استعمال بېله کوم تعویض څخه د یوې ټولنی د رسوائی سبب ګرځی خو دغه حال د هغه وخت و نړۍ ته ډېر ښه او ګټور ؤ .

ځکه چی انسانان به د یو ځای نه د خوراکی موادو د قلت او لږ توب په وجه د نوو ځایونو په پلټنه پسې خو ځېدل او دا په اصل کی یو تحریک ؤ چی په نړۍ کی د انسانانو د خپرېدو موجب وګرځېد او ټوله نړۍ په ډکه شوله .

موږ د لرغونیو انسانانو د ژوندانه په باره کوم ښکاره شواهد نلرو لېکن ځینی ابتدائی انسانی ټولنی نن هم په نړۍ کی شته چی تش په ښکار او یا خودرویه مېوو او نباتاتو ګذاره کوی او

دژوند ډول اولاری ئې وهغو
لرغونیو وګړو ته چې د ېرش زره
کاله ئې د مخه ژوند کاوه ډېر
ورته دی . د دوی له کتنی او
مطالعې څخه د پخوانیو انسا-
نانو د ژوندانه په باره کی څه
معلومات په لاس راوستلای شو .
لومړنی انسانانو تقریباً په
ګډه په د ېرش کسیزو وړو وړو
ټولنو کی ژوند کاوه او داهغه
شمېر وګړی ؤ چې دوی ښکار
ځای حمایه کولای شوای . هری
ټولنی غالباً یو مشر اولار ښوونکی
درلود چې د دوی له پوهو او
قوی ترینو څخه ګڼل کېدی .
په مجردی چې به دا مشر له منځه
ولاړ بل لایق او قوی سړی به
دده پر ځای ودرېدی او د مشر-
توب دنده به ئې په غاړه واخیستله
غالباً په دوی کی قانون او
حکومتی تشکیلات نه ؤ ، ځکه
چې پداسی وړو او سره متحدو
ګروپونو کی وداسی شیانو ته
ضرورت نه ؤ . موږ د ننني
ابتدائی ټولنو له کتنی څخه
دا حدس وهلای شو چې لرغونیو
وګړو ځانته عادات او دودونه
درلودل چې پرهغو وګړو کوم
چې به ئې دا قواعد ماتول او یا
به ئې مخالفت تری کاوه
تطبیقېدل . یو اځینی جزا چې
پدې ټولنو کی دوګړو د برلار
ساتلو لپاره استعمالېدله ټوکی
او مسخرې وی .
دا ټولنی ډېری وړې وې او هرچا
یو او بل سره بېژندل او دیو او بل
په باره کی به ئې پوره معلوما-
تونه درلودل . چا چې به خپل
ملګری او ګاونډې وغولاوه او
یا به ئې ژیان ور ورساوه و بلی
ټولنی ته نشوای تښتېدلای او
دهری خوا به لار پری تړلی وه .
ځکه چې ګاونډی ټولنی به
دښمنی او لوټ ګری وی او له دغه
سببه هر سړی مجبور ؤ چې د
خپلی ټولنی سره د خپل ځان د
ساتنی له کبله وهستیږی او
دغلته دوګړو ټوکی ، مسخرې
او رسوائی که څه هم سختی
پری تمامیږی وزغمی او وئې
منی . اوس هم په ځینو ابتدائی
ټولنو کی که کوم غړی بدکار
وکړی ، وګړی بېله دې چې کومه
جسمی او بدنی جزا ورکړی
پری خاندی او مسخرې او
ریشخند پری کوی . که څه هم
دا کومه سخته جزا نده خوغلا
او نور ډېر بدکارونه په دې
ټولنو کی نشته . اما ښائی چې
په ډېرو بدو کارونو کی لکه د
ښځی تښتول او نور ډېر سخت
انتقام واخلی .
پدې کی هیڅ شک نسته چې پدې
دسته ئیز او ډله ئیز ژوند کی
کورنی او فامیلی ژوند هم ؤ او
دا کورنۍ زموږ له اوسنی
کورنۍ نه ډېر بېلوالی او تو پیر
نه درلود . مېړه او ښځی به د خپلو
اولادونو سره په ګډه یو ډېر
نژدې داخلی ګروپ جوړاوه
که به ضعیف هم ؤ . یو وخت دا
ګمان کېدی چې ابتدائی وګړو
به په یو بې احتیاطه ګډ حالت
ژوند کاوه . یو سړی به کله
یوه ښځه وکړه او کله به ئې بله
ښځه کوله . هیڅ ډول کورنی
به ئې نه تشکیلوله . خو دا لږ څه
بې احتماله ښکاری ، ځکه چې
په ننني ډېرو ابتدائی وګړو
کی هم دا طرز العمل نه لیدل
کېږی او حتی لو بی بیزوګانی
هم خپل جفت انتخابوی او تر
مرګه پوری ورسره اوسیږی .
په حقیقت کی د کورنی جوړونه
او د کور بنسټ دانسانانو فطری
ضرورت دی په هر وخت او هر
ځای کی چې اوسی .

موږ ننني وګړي منو چې غذائي اوخوراکي مواد له کښتو څخه په لاس راولي لېکن دا به دنه منلو خبره راته وايي چې د حبوباتو اوغلو د کرلو مفکوره پسله زرګونو کلونو څخه منځ نه راغلې ده . کرهنه او په ټوله بيا خيشاوه کول، رمبې کول، ربيل او نور ډېر سخت اومشکل کارونه دي .

تر کومه وخته پورې چې طبيعت وانسانانو ته پرېمانه خوراکي مواد برابر ول، انسانانو کرهنې او ځائي ژوند ته کومه داچسپې او علاقه نه درلوده لېکن کوم وخت چې ئې نفوس ډېر شو او خودرويه مېوې او ترکاري هر کال بېله دې چې نورې ئې برځای کښېنولې شي اوبا و کرلې شي، تولېدلې او نامېدلې او کال په کال د خوراکي موادو قلت اولېزتوب منځ نه راتې چې يوالحې او يوالحې ئې کرهنه ځواب ور کولای شوه .

کرهنه ښائي چې د خودرويه مېوو دونو له ساتلو نه شروع شوې وې. ممکن ځينو کورنيو په ځينو ځايونو کې د خودرويه مېوونو کورغ کړي او ساتلې وې چې هر کال به د مېوونو اولونې پروخت ورتالې او مېوې به ئې ترې تولولې، همدارنګه دوې بېه کشف کړې وې چې که چېرې ددې ونو بېخونه او شاوخوا مځکه وريسته کړه شي ډېرې اوښې خوږې مېوې به حاصل ورکړي . اومړې کښتګران غالباً ښځې وې چې پاڼې، مېنه به دونو په ابولو او روزولو اخته وې او ناريناڼو به ئې ښکار کاوه . دې ته ښايي لو فکرهم غالباً يو تصادفي کشف ؤ اوهغه وخت منځ نه راغې چې د قبل التاريخ ښځو وليدل چې دخودرويه مېوو مندګي يا بوه لنده مځکه کې لويدلې او راشنې شويدې او همدارنګه ځينې حبوبات ئې هم وليدل چې په لنده مځکه کې ځنې لويدلې ؤ اوراشنه شوې ؤ .

دتر کار يو اوسېږ ځانو برابرول د ښځو کار ؤ لېکن د غوښو برابرول د نارينه ؤ . حتې تر هم په ابتدائي ترلنو کې د کرهنې اکثره کارونه لکه: رمبې خيشاوه دباغ او پالېز ساتنه ښځې کوې او ناريناڼې رمې بيايې، لنګې لوشې، او قصابي کوې .

انسانانو په آزادانه اومختار ډول سره د حبوباتو اوغلو کرل په ځينو متعدد سيمو کې شروع کړه چې پوله دغو آزادو زراعتي مرکزونو څخه د ايرې ختيځ مرطوبه استوائي سيمه ده . ددې ځای ګڼو ځنګلونو د وښو وتخمونو نه دشنه کېدو چانس نه ورکاوه . کپلې، خوږې پټاتې او ځينې نورې مېوې لومړي پلا دلته اهلي شويدې . کپلې او ځينو نورو مېوو يو وخت مندګي او تخمونه درلودل چې پر مځکه لويدلې اوشنې شويدې حوررو ستنه ئې تخمونه اومندګي لهلاسه ورکړيدې .

بې مندګو اوبې تخمو مېوې چې خپل تخمونه ئې له لاسه ورکړيدې يوالحې او يوالحې د انسانانو په واسطه بيا ايښوول کېدای شي .

[پاته په بله ګڼه کې]

ښاغلی محمد یوسف «ویران»

گل

په بهار میسر کېږی د بیا لې گل
عجب ښه زینت لری د کوډالې گل

چی باغ ان ئې ږدی په لاس هغه لا پرېږده
پر هر ځای کی په خندا وی دوبالې گل

د قدرت د گل بېښې کولای نه شی
نقاشان چی جوړوی د مسالې گل

نور که گل کوی په ښه زیبا مانۍ کی
زما تر هر ځای خوښ دی خپل د کنډوالې گل

زما مزار به په سرو گلو نښانی وی
ولی خوښ می دی نن دلته د لالې گل

او گلاب چی سی بیدا په کندهار کی
ویران څه کړی د کشمیرؤ بنگالې گل

می به وی، مطرب به وی، مستی به وی، نشه به وی
جوش به وی، خروش به وی، د مینی ترانه به وی

ستا د وصل جام ته انتظاریم انتظار ساقی
مړ شومه له تندی نشته ما لره قرار ساقی

په دې ښایسته فضا کی به زه تا ته په کتلو شم
رغړی به پر گلو زه به ستا په تخنولو شم
ستا د خولې غنچې ته به اشنا په مسېدولو شم
ته می شې خواخوږی، زه به سر ستا به ستایلو شم

ستا د وصل جام ته انتظار یم انتظار ساقی
مړ شومه له تندی نشته ما لره قرار ساقی

۱۳۳۴

KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE:-

PRESS DEPARTMENT

KANDAHAR , AFGHANISTAN

EDITOR A.M-KARZI

JANUARY-AND-FEBRUARY, 1962

GOVERNMENTAL PRESS